شين سترګي مستخدمين

(په افغانستان کي)

Download from:aghalibrary

ليکوال :

محمد معصوم هوتـک

1

شين سترګي مستخدمين

(په افغانستان کي)

ليکوال:

محمدمعصوم هوتک

تورنتو ـ کاناډا

PUBLISHED BY:
Sahaf Book Publishing Institution
Quetta
2006

Download from:aghalibrary

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from:aghalibrary

د خپروونکي يادښت

دا اثر چي فاضل ليکوال د" شين سترګي مستخدمين" نوم پر ايښی دی د حجم او ظرفيت له مخي کوچنی اثر دی.

خو دمفهوم په لحاظ خورا غني او له معنیٰ ډک اثر دی. ښاغلي ليکوال د غربي او افغاني منابعو په حواله اکاډميک کوشش کړی دی او داسي مواد يې په دغه اثر کي سره راټول کړي دي چي د افغانستان په نني وضعيت کي د عبرت درس ځني اخيستل کيږي، نن هم د "اين جوګانو" رفاهي او عمراني مؤسسو په تشکيلاتو کي اماتور انجنيران، کارپوهان او تخنيکي ماهران هڅه کوي چي د افغانستان د بيا جوړولو په نوم جيبونه ډک کړي او په اصطلاح يو ځل بيا تاريخ تکرار کړي.

ښاغلو لوستونکو ته دي معلومه وي چي هر سورمخی او شين سترګی زړه سواند نه دی او نه د يوه عالي او پرمخ تللي کلتور نماينده دی.

Download from:aghalibrary

موږ افغانانو ته په کار ده چې خپل هرڅه د پردو په لاس جوړېدو ته پرې نهږدو.

هوتک صاحب خو زيار ګاللی دی چې د تيرو وختو د ناوړو پېښو په هکله موږ ته مستند مواد په لاس راکړي، په راتلونکو وختو کې به هم د هوتک صاحب په څېر يو څوک پيدا کېږي او ناوړي څېرې به لکه څنګه چې دي هماغسې ښيي.

د هوتک صاحب دغه اثر د يوه تاريخ حيثيت لري او د تاريخي پېښو لوستل د نړۍ د پوهانو په قول انسانانو ته د عبرت توصيه کوي.

صحاف نشراتي مؤسسه د خپلو نشراتو په لړ کې د (شين سترګي مستخدمين) نشرول يو نېک فال بولي لوی څښتن دي هوتک صاحب او د هيواد نورو ليکوالو او ناشرانو ته دا توفيق ورکړي چې داسې آثار وليکي او خپاره يې کړي چې زموږ د زورول سوي ولس ښېګڼې پکښې وي.

په پای کې هوتک صاحب ته زموږ اداره د دې اثر مبارکي وايي او په دې لار کې د نورو هڅو توان له لويه خدايه ور ته غواړي.

د صحاف نشراتي مؤسسې اداره

کوټه ـ ۲۰۰۶م پسرلی

Download from:aghalibrary

٥

فهرست

شمیره	سرلیک	مخ
۱.	سریزه	۹

لومړۍ برخه د امیر عبدالرحمٰن خان د پاچهۍ دوره

شمیره	سرلیک	مخ
۲.	مسیو ژیروم	۱۹
۳.	سرسالټرپاین	۲۳
۴.	سر توماس مارتین	۲۸
۵.	فرانک. اې. مارتین	۲۹
۶.	جان الفرېډ ګرې	۳۱
۷.	ډاکټراومېرا	۳۵
۸.	کپتان ګریسباخ	۳۶
۹.	ارتر کولینز	۴۰
۱۰.	مسټرسټیوارټ	۴۲
۱۱.	مسټر میکډرماټ	۴۳
۱۲.	مسټرمیډلټن	۴۴
۱۳.	تارنټن	۴۵
۱۴.	کمیران	۴۶
۱۵.	مسټربراون	۴۷
۱۶.	مېرمن ډالي	۴۷
۱۷.	دوکتورللیاس همیلټن	۴۸
۱۸.	مسټرکلیمینس	۵۱
۱۹.	والټر	۵۳
۲۰.	مسټرریچیز	۵۳
۲۱.	فلیشر	۵۴

6

دوهمه برخه ـ د امیر حبیب الله خان
(سراج الملةوالدین) دوره

۲۲. اې ـ سي ـ جیوټ ۵۵
۲۳. بېکر ۶۰
۲۴. مسترسمیت ۶۱
۲۵. سټ ۶۳
۲۶. مسترهالیډې ۶۳
۲۷. جېمز میلر ۶۴
۲۸. ډاکټراوون ۶۵
۲۹. د غابښو ډاکټر ۶۸
۳۰. فینل ۶۹
۳۱. ټېلر ۶۹
۳۲. پیر کرافورډ او پاټریک کیلي ۷۰
۳۳. ډار بي ۷۰
۳۴. الکساندر مکرابرټ ۷۰
۳۵. رضابیګ ۷۱
۳۶. ډاکټرماني بیګ ۷۱
۳۷. ډاکټر منیربای ۷۱

❋ ❋ ❋

د چاپ حقوق يې له خپروونکي ادارې سره دي.

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	::	شين سترګي مستخدمين (په افغانستان کي)
ليکوال	::	محمد معصوم هوتک
د ليکلو کال	::	۲۰۰۳ م
د ليکلو ځای	::	ټورنټو ـ کاناډا
د چاپ ځای	::	يونايټيډ پريس ـ کوټه
د چاپ کال	::	۱۳۸۵ل ـ ۲۰۰۶م
د چاپ شمېر	::	(۱۰۰۰) زر ټوکه
خپروونکی	::	صحاف نشراتي مؤسسه
کمپوز او ډيزاين	::	د صحاف نشراتي مؤسسې اداره
بيه	::	(۶۰) کلداري

شین سترګي مستخدمین

سریزه

امیردوست محمدخان (۱۷۹۲ـ ۱۸۶۳م) د خپل امارت په لومړۍ دوره کي د خپلو نهه ویشتو ورونو یوه جرگه د کابل په ښار کي را و غوښتله، چي ریاست یې د ده مشر ورور نواب عبدالصمد خان کاوه (دوهمه خور ۱۲۴۲ق). د افغانستان د هماغه وخت تاریخي قلمرو یې د خپل پلرني میراث په توگه پخپلو منځو کي سره وندۍ کړ، چي هر یوه پخپله ور رسېدلې سیمه کي مطلق العنانه واکمني کوله.[1] په دې ډول یې د احمدشاهي پاچهۍ پیاوړی مرکزي

---

[1] دغه مهم سند د افغانستان په ملي ارشیف کي خوندي دئ. د دغه سند له مخي کندهار (له شاه جوی څخه تر فراه پوري) د کندهاري ورونو(کهندل خان و پردل خان و مهردل خان...)، کابل او کوهدامن تر بامیانه پوري د امیردوست محمدخان او د هغه د سکه ورور سردار امیرمحمدخان، د غلجیو حصارک د نواب عبدالجبارخان، لغمان و جلال آباد تر خیبره پوري د نواب محمدزمان خان او ورونو، کوهاټ و هنگو(بنگښ) د نواب عبدالصمدخان، پېښور و اشنغر و توابع یې د سردار سلطان محمدخان او ورونو، لوگر و بتخاک و میدان و غوربند د سردارمحمد عظیم خان د زامنو (سردارحبیب الله خان او سردارمحمداکرم خان) په برخه و رسېد.(و گورئ: پوهاندحبیبي ـ تاریخ مختصرافغانستان ـ۲۸۷مخ ـ چاپ۱۳۶۸ش) عام ولس له دغو واکمنیو څخه ناراضه و. د پښتو دېوان لرونکی شاعرحاجي جمعه بارکزي چي پر کندهار باندي د کهندل خان د واکمنۍ پر وخت ژوندی و، د احمدشاهي دولت پر ړنگېدلو باندي افسوس کوي او له دغه حالت څخه داسي سر ټکوي:

اوس نوبـت د کنـدل خـان دی — ســره وې نغښـت کنـدهار
و دانــې یــې کــړې خرابــي — عــالموني کــړه ناتــار
درسـت وطـن یـې پـه حصـه کـړ — ســرې واخیسـت چـار بـرار
دربـدره یــې مخلــوق کــره — مـال و ملـک یـې کـړ سـرکار
پـه وطـن کـي یـې پـرې نښـوو — یــو درم و یــو دینــار
ســر بــر یــې ســره وخــور — لا دوی وربې دي نهـــــــار
کــه بانــه یــې ســوه در پــوري — نــور پر پــرده ملـک و مـزار
ســرتور ســر پښــې پیلــي درومــه — گــوره مــه لیــل و نهــار
کـه دي خپـل سـر ځني خـلاص کـړ — شـکر کـاره پـه بـار بـار
یـو خیـرات هـم پـر ځـان وکـه — کـه پـه پـور وي کـه پـه دار

دولت له منځه یووړ او هیواد یې د څه مودې لپاره سره تجزیه کړ. په سره ټوټه افغانستان کي سرانښو ګاونډیو او انګریزي استعمارګرو خپلي ګټي لیدلې او هر یوه پخپل وار د سیمه ییز واکمن سیله کوله او د نورو ورونو په وړاندي یې تقویه کاوه. وروسته امیردوست محمدخان د مرکزي دولت د اعادې په فکر کي سو او د امارت په دوهمه دوره کي یې د خپلو ورونو نفوذ له منځه یووړ او پر ځای یې هیواد د خپلو زامنو په منځ کي و وېشه. دوی د خپل پلار په اجازه واکمني کوله او په دې ډول ګویا پر هیواد باندي یو راز مرکزیت واکمن و. دغه مرکزیت د امیر تر مړیني(۱۸۶۳م) وروسته بیا سره کمزوری سو، زامنو یې پخپلو منځو کي شخړې پیل کړې او هیواد ته یې د انګریزي لښکرو د بیا را بهېدلو لپاره پلمه برابره کړه. انګریزي لښکري د خیبر، کورمي او بولان له لاري پر هیواد را و بهېدلې او د هیواد پال امیرشیرعلي په زړه چاودني سره هیواد بې سره بې رهبره سو د کابل تخت انګریزي ګوډاګي امیرمحمدیعقوب خان ته و رسېد او د ګندمک شرمووںکی تړون پر افغان ولس تحمیل سو. د افغان و انګلیس دوهمه جګړه پیل سوه او ملي مبارزینو بیا د هیواد د خپلواکۍ او پیاوړې مرکزیت لپاره لېڅي را وغښتل. د دغو هلو ځلو په لړ کي د غازي سردار محمد ایوب خان په مشرۍ ملي لښکرو د کندهار په میوند کي انګریزي یرغلګرو ته د ۱۸۸۰م کال د جولای پر اووه ویشتمه داسي سخت ګوزار ورکړ چي اغېزه یې د انګلستان تر پارلمانه و رسېده او د وخت واکمن ګوند له قدرته ولوېدی. انګریزانو د افغانستان په باب پر خپله پالیسي باندي نوې کتنه وکړه او د دې لپاره چي د یوه پیاوړي ملي دولت د جوړېدلو مخه یې نیولې او پر ځای یې خپل یو خواخوږی سردار تخت ته رسولی وي، له سردار عبدالرحمان خان سره د کابل د تخت پر تسلیمېدلو باندي موافقې ته و رسېدل او نوموړی سردار د امیرعبدالرحمان په نامه د کابل پر تخت کښېنوست. امیرعبدالرحمان خان د ژوند ډېري سړې و تودې لیدلي وې. د افغانستان د خلکو په خوی و خصلت او د انګریزي صاحبانو، روسي او پارسي ګاونډیو په نیت و مطلب پوه امیر و. له مطلقه واکمنۍ سره یې د زړه مینه وه او د همدې مقصد لپاره یې د هیواد

1021

لیپل گریفین، عبدالرحمان خان او جنرال ستیوارټ په دغه غونډه کې
انګریزانو د عبدالرحمان خان پاچهي ومنله ۱۱ /اګسټ / ۱۸۸۰ع

له خلکو سره په ډېر شدت و حدت او له انګرېزي حکامو سره په ډېره نرمۍ چلند کاوه. ده د اداري خورا پیاوړی استعداد درلود او په هیواد کې یې د خپلو مخالفینو له بې رحمانه ټکولو او مضبوط امنیت را وستلو وروسته د دولتي جوړښت د سمون او بدلون لپاره یو لړ کارونه و کړل او پرڅنګ یې د صنعت و تخنیک لوري ته تر هغي اندازې پوري پاملرنه واړوله، چي د ده واکمنۍ ته ګواښ متوجه نکړي. ده په هیواد کې د کوچنیو صنایعو د ایجاد لپاره هلي ځلي او عملي اقدامات و کړل خو د اورګاډي د پټلۍ له غزولو سره یې په دې پلمه مخالفت کاوه، چي اورګاډی د بهرني یرغل په صورت کي د دښمن د پوځي انتقالاتو په ګړندي کولو کي مرسته کوي او که اورګاډی نه وي نو به بیا دښمن ته ډېره سخته وي، چي د افغانیستان غوندي غرني هیواد په لوړو و ژورو کي خپل پوځي قطعات اکمال کړي[1].

---

[1] دا نظر اصلاً د انګرېزانو و. لیون. بي. پولادا لیکي(انګلیسان تل له افغانستان څخه د اور ګاډي د تېرولو له موضوع سره له دې امله حساس وو، چي پر هندوستان باندي یې د روسانو د احتمالي برید له بابته اندېښنه در لو ده). نوموړی پولا دا زیاتوي (په افغانستان کي د اور ګاډي د غزولو پلان د امیر امان الله خان د اصلاحاتو یوه ډېره مهمه برخه وه. په لومړي سر کي یې غوښتل له کابله تر کندهاره پوري د اورګاډي پټلۍ وغزوي او وروسته یې هیله در لوده، چي له کندهاره یې تر هراته پوري هم اوږده کړي. اروپا ته د ده د سفر په ترڅ کي یې په دې باب له الماني او فرانسوي شرکتو سره خبري وکړې او وروسته یې د وسلو د مشهور او رسوا شخص سر باسیل زهاروف Sir Basil Zaharoff په مشرۍ له یوې فرانسوۍ سنډیکا سره د ارو ګاډي د سروې پر سر موافقه و کړه. دغه سروې د ۱۹۲۸ کال په دوبي کي د یوه ټیم لخوا پیل سوه، چي مشري یې د مایکل کلیمینسیو Michel Clemenceau او پییر ماکچیف Pierre Makcheef په لاس کي وه ... دوی دواړو انګلیسي مقامات د سروې په جریان باندي خبرول. په سپټمبر کي کلیمینسیو او زهاروف په پاریس کي د انګلستان سفارت ته خبر ورکړ، چي له کابله تر کندهاره او بیا تر هراته پوري سروې د ماچیف لخوا په ډاډه توګه بشپړه سوې ده.) پو لادا دغه مطالب له هغه نیمه رسمي لیک څخه اخیستي دي، چي په پاریس کي د انګلستان شارژدافیر سر ټریوور ډاوسن Sir Trevor Dawson لخوا د انګلستان د بهرنیو چارو د وزارت د ماوراء بحار د ډیپارټمنټ مشر سر اډوارډ کرو Sir Edward crowe ته د ۱۹۲۸ ع کال د سپټمبر پر اتلسمه نېټه لېږل سوی و. (و ګورئ: Leon B. Poullada د Reform and Rebellion in Afghanistan, ۱۹۱۹-۱۹۲۹ لیکنه ـ ۱۴۲ مخ ـ ۱۹۷۳ ع چاپ).

امیر عبدالرحمان په ۱۸۸۵م کال د بر تانوي هند د انګرېزي حکامو په بلنه له ګورنر جنرال لارډ ډفرین (Dufferin) سره د کتلو لپاره راولپنډۍ ته رسمي سفر وکړ. هورې یې له انګرېزي واکمنانو سره خپله دوستي نوره هم پسې پیاوړې کړه او پر څنګ یې ځیني صنعتي مؤسسي وکتلې او له ځینو بهرنیو ماهرانو سره یې په هیواد کي د یو شمېر کوچنیو کارخانو د جوړولو په باب خبري اتري، مشورې او قرار دادونه وکړل. یو شمېر بهرني ماهران یې پخپل شخصي لګښت استخدام کړل چي هغوی بیا په کابل کي د سکې وهلو، کارتوس او توپک و توپ جوړولو، آهنګرۍ، دباغۍ، بوټ جوړولو، صابون پخولو، او نورو سپکو صنایعو تاداو کښېښوو. پخپله امیر هم له لاسي کارونو او کسب و صنعت سره له وړکتوبه مینه درلوده. په دې باب د ده له خولې داسي لولو:(...وقتی طفل بودم از خواندن و نوشتن متنفر بودم، او قات خودرا در کارخانجات پدرم در کارنمودن با عمله جات مصروف میداشتم و اشتیاق مجددانه زندګانی من در آن زمان فقط این بود که عمل بنایی و تفنګ سازی و ریخته ګری و نجاری و آهنګری و کارهای دیګر راییاموزم و درهمه این صنایع به خوبی ماهرشدم... درزمانی که درخاک روسیه سکنا داشتم... درآن وقت کار زرګری و میناکاری و تذهیب کاری وغیره آموختم.) (۱)
د امیر په روزنه کي د جنرال شیرمحمدخان رول ډېر و. دا سړی جدید الاسلام انګرېز و، چي تر مسلمانېدو د مخه یې نوم کېمبل و.

علامه حبیبي د مستر کیمپل Campbell په باب لیکي:

(مستر کیمپبل چي د افغانستان په تاریخ کي په کیول مشهوره دئ، په ۱۸۳۳م کي له شاه شجاع سره له لودیانې څخه د کندهار پر لور حرکت وکړ. د کندهار په جګړه کي یې (۱۲۴۹هـق) د سردار اکبر خان

(۱) سفر نامه و خاطرات امیر عبدالرحمان خان و تاریخ افغانستان ـ ایرج افشارسیستانی ـ ص۳۳۴ـ ۱۳۶۹ش . تر دې وروسته دغه اثر د (سفر نامه...) په نوم یادوم.

په مشرۍ د سردار دوست محمد خان د ۱۲زرو لښکرو په مقابل کي د شاه شجاع د لښکرو د دوو بتالیون مشري پر غاړه در لوده. د شاه شجاع تر ماتي وروسته په جګړه کي ټپي سو او د دوست محمد خان لښکرو ته په لاس ورغی. کیول تر دې پېښي وروسته په کابل کي د امیر د توپخانې افسر سو او د میاشتي یې ۴۰۰روپۍ معاش در لود.... د موهن لال په قول د کیول لومړی اسلامي نوم د اسلام د منلو په سر کي عبدالله خان و، خو د امیرعبدالرحمان په شهادت بیا... شیرمحمد خان و.)

(و ګورئ: اریانا مجله ـ۱۱ـ ۱۲ګڼې ـ ۵۷۱ ـ ۵۷۸ مخونه ـ ۱۳۴۴ش کال د شل مقالې، دریمه برخه، ۱۲۴مخ په حواله). د امیر په مستخدمینو کي ځیني عادي کسان او له خپل مسلک سره مینه وال خلک وو، چي د مادي امتیازونو او پیسو ګټلو په مقصد یې د امیر نوکري ته غاړه ایښې وه خو ځیني یې بیا سیاسي خلک وو او امیر په سیاسي چارو کي ورسره سلا مشوره کوله. په صنعت او حرفت کي د دوی کار کول د پرنګیانو په اصطلاح سایډ بیزنس(Side Business) و. یو شمېر یې مطلق دوکه بازان او یوه ډله یې جاسوسان او له استخباراتي شبکو سره تړلي کسان وو. امیر په کابل کي د کارخانو او فابریکو لپاره اوسنی پل هارتل ته نزدې یوه ټوټه مځکه و ټاکله او پر دغه ځای یې (علم ګنج) نوم کښېښوو. دی وایي: (یک قطعه زمین که معروف به علم ګنج میباشد و به جهت بنانمودن کارخانجات و فابریکها، مناسبت داشت انتخاب نمودم،زیرا که اراضی مذکور خارج از شهر کابل و متصل به شهر میباشد و این اراضی اززمینهای دیگر حول و حوش آنجا و سیع تر بود. علاوه بر این هوای آنجا هم سالم بود و این نقطه منظر خوبی داشت ویک طرف آن نهری بود که به جهت ماشینهاو دیګهای بخار و غیره در کارخانه آب برساند و طرف نشیب این زمین، رود کابل میګذشت که تمام فاضلاب کارخانجاترا می برد.)[1] په دغه وخت کي افغانستان په نسبي توګه له هغي انزوا څخه راوتلی و، چي

[1] سفر نامه ـ ص۳۳۷

د څو لسیزو کورنیو جګړو له اسیته ور په ییخه سوې وه او د لویدیځي نړۍ یو شمېر خلک یې له نامه او مسایلو سره یو څه اشنا سوي وو. په انګرېزي مطبوعاتو کي د امیر او د هغه د کفایت او اداري په باب نشرات کېدل او ان تر دې، چي مستقل کتابونه د ده په باب ولیکل سول. زما د مطالعې له مخي په نونسمه او شلمه میلا دي پېړۍ کي د افغانستان په پاچهانو کي تر امیر عبدالرحمان او امان الله شاه پر ته د بل هیڅ یوه ټولواک په باب دومره زیات نشرات نه دي سوي.

د امیرعبدالرحمان په در بار کي له ځینو کسانو سره دا فکر و، چي د اروپايي ماهرانو د استخدامولو پر ځای به ښه دا وي، چي افغاني زلمیان بهر ته د تحصیل لپاره ولېږل سي. دې نظر دومره نفوذ کړی و، چي امیر مجبور سو پخپل کتاب(تاج التواریخ) د هغه د رد په باب څرګندوني وکړي. البته د امیر دربار د دې نه و، چي څوک دې په زغرده خپل نظرونه بیان کړلای سي خو له قراینو داسي ښکاري، چي خارج ته د افغاني زلمیو د لېږلو پلویان موجود وه. امیر د اروپايي اشخاصو چي معمولاً انګرېزان وو، د رابللو په برخه کي خپل اقدام داسي توجیه کړی دئ (بعضی او قات مر دم ازین رویه من که اهالی خارجه را به مملکت خود آورده ام، ایراد می نمایند و تعجب میکنند چرا به عوض اهالی افغانستان، معلم از خارجه می آورم، خود اینها را به فرنگستان نمی فرستم... جواب اینست: اولاً این اقدام خرچی گزاف داشت... ثانیاً مکرراً به اطباء و صنعتگرهای خود گفتم که پسرهای خودشان رانزد من بیاورند تا آنها را به ممالک خارجه بفرستم ... ولی این خواهش مرا غیر از خاموشی جوابی ندادند... ثالثاً اتباع من السنه خارجی نمی دانند. اگر به ممالک خارجه می رفتند، مدتها لازم بود که صنایع عملی بیاموزند... رابعاً بخیال من بعضی از مشرقیان که به اروپا بجهت تحصیل علوم می روند، بعوض اینکه فضیلت و قابلیت مردمان اروپا را اکتساب نمایند، عادات ذمیمه اروپایی ها را مثل شرب مسکرات و قمار و غیرها اخذ

و با خود حمل نموده و به وطن خود وارد مینمایند. ازین جهت به اعتقاد من کار عاقلانه این است که جوانان وطن خود را تحت نظارت خود تربیه نمایم ....)[۱] دا چې دې اوږده اقتباس به درانه لوستونکي د امير په د لايلو قانع کړي وي که يا؟ زه څه نسم ويلای. خو امير د خپل دغه اقدام لپاره ځان په قانع کړی و.

ځيني افغاني مؤرخين د اميرعبدالرحمان خان هغه کارونه، چې د يوې پياوړي مرکزي ادارې لپاره يې سرته رسولي وو او دا کارونه د هماغه وخت د سره ټوټه ټوټه افغانستان لپاره يوه بنسټيزه اړتياوه(لکه نن چې هم ده)، د ده د اداري شقاوت او استبداد تر سيوري لاندې راولي او سرسري پر تېرېږي. البته د منځنيو پېړيو مجازات او مطلقه استبداد ته خو د توجيه هيڅ راز لار نه برابرېږي، خو که څوک د(طالب) ټاپه راباندې ونه وهي، نو زما په نظر د سړې سينې څېړونکي د ده په ځينو اقداماتو، په تېره بيا په هيواد کې د بشپړ امنيت راوستلو او د صنعت د رواجولو په پروسه کې داسې نښانې موندلای سي، چې د يوه مدني نظام د راتلو لپاره يې عيني بنسټونه و بولي او لکه څرنګه، چې وينو د ده خلف اميرحبيب الله او د ده د دربار ځينو منورينو پر همدغو بنسټو باندې په هيواد کې د پوهې او تخنيک د رواجېدلو مبارزه بنا کړه او پر مخ يې بوتله. د سراجي عصر منورينو د يوه پياوړي مرکزي دولت په نستوالي کې د خپلو ارمانو تحقق ته لار نسواى موندلای. د دې خبري يادونه به هم ضروري وي، چې د دغو تخنيکي او صنعتي تشبثاتو انګېزه پخپله دربار او د هغه اراکينو ته د نسبتاً مدني او عصري ژوند برابرېدل و. ولس ته يې کومه ښېګڼه نه رسېدله. امير که د برېښنا جنرېټر دراوه، مراد يې د پاچهي ماڼۍ روښانول و، که يې حربي کارخانې جوړولې، که يې ډاکټران و انجنيران راغوښتل، مقصد يې د قدرت ساتنه او ځانو ته د اسايش برابرول و.

---

(۱) سفر نامه و..... ۳۳۱_ ۳۳۳ مخونه

امریکایي انجنیرجیویټ د (افغان موټر شرکت) Afghan Motor Company تاسیسولو په باب په دې ارتباط داسي خبري کوي دی لیکي (Afghan Motor Co) کابل ته د مالونو راوړلو او بیرته هندوستان ته د افغاني صادراتو د لېږلو په نیامت تنظیم سوي و. امیر خپلو خلکو ته له دې بابته وینا وکړه او له هغوی څخه یې و غوښتله چي په دغه شرکت کي پانګه وا چوي. امیر د شرکت د ګټو بیانولو په ترخ کي وړاندیز وکړ چي څوک دي دېرش زره، څوک شل زره روپۍ شرکت ته ور کړي. د امیر وړاندیز د حکم معنا لرله او طبیعي ده خلکو په دغه شرکت کي پانګه واچوله. د دې کمپنۍ نوم د شرکت د ودانۍ پر سر په دومره غټو تورو ولیکل سو، چي له څو میله واټن څخه به لیدل کېدی. خو د شرکت له موټرو څخه بل هیڅ کار وا نه خیستل سو، بې له دې چي د حرم مېرمني او د امیر غلام بچه ګان او د هغوی سامانونه له یوه ځایه بل ته و لېږدوي! جیویټ زیاتوي: ده امیر ته وړاندیز وکړ چي له دغو لاریو څخه دي یوه پېښور ته ولېږل سي، چي له هغه ځایهGate value را نقل کړي، څکه د دغو پرزو له بابته د برېښنا د فابریکې یو مهم کار معطله دئ که دغه سامانونه د پیل د ګاډیو پر ځای په موټر کي رانقل سي، درې میاشتي وخت پکښې سپمېږي. دی زیاتوي چي دا پلان د عملي کېدو پړاو ته نژدې سوی و، چي یو چا امیر ته و ویل چي که دغه سامان آلات په لارۍ موټر کي را نقل سي، امکان لري د موټر رنګ وتوږل سي! او امیر تر نوموړي پلان تېر سو!(Asia مجله ـ د ۱۹۲۰ع کال د جون ګڼه) خو له دې ټولو ملاحظاتو سره سره بیا هم سترګي نسي پټېدلای، چي د غو محدودو پر مختګونو پر عامه ذهنیت باندي هم اغېزه ښندله او د راتلونکو تنویري فعالیتو لپاره یې زمینه برابروله. د بهرنیو ماهرانو د استخدامولو کار د امیرحبیب الله خان (سراج الملة والدین) لخوا پسې تعقیب سو. نوموړي امیر په هیواد کي د ځینو مدني پر مختګو لپاره په ذهني لحاظ تر خپل پلار

زیات آماده و. دی د خپلو اسلافو او اخلافو په پرتله تر ټولو زیات بامطالعه امیر تېر سوی دئ. امریکایي انجنیر A.C.Jewette د ده ذکاوت ستایي او لیکي: (امیرحبیب الله خان... په فارسي، پښتو، عربي، اردو، تورکي او یو څه انګلیسي پوهېدی... امیرحبیب الله خان، چې مالیدلی و یو ډېر روښانفکر او مستعد افغان و. دی د پیاوړي شخصیت څښتن و او پیاوړې حافظه یې وه....په کابل کې استوګن اروپایان او دغه راز افغانان سره له دې چې دی د خپلو لغزشونو له امله غندي، خو پر دې خبره متفق دي، چې دی په خپل هیواد کې د واکمنۍ لپاره په ټوله معنا ډېر ښه شخص و.)[1] اوسکارفون نیندر الماني چې د یو هیئت په مشرۍ کابل ته تللی و (۱۹۱۴ع)، د امیر حبیب الله خان په باب د انتقاد پر څنګ ښه نظر هم لري او نوموړی امیر د رسا فکر څښتن بولي. (افغانستان د هند ستره دروازه - ۷۴ مخ).

زموږ د زماني مورخ ارواښاد فرهنګ پخپل کتاب (افغانستان درپنج قرن اخیر) کې د ده په باب داسي وايي (... از نظر دانش شخصی امیر باسواد ترین و بامطالعه ترین پادشاه سلسله محمد زایی از عصر امیردوست محمدخان تا به امیر امان الله خان به شمول خود امان الله خان بود. این مطلب را شاهد بیطرفی مثل راجا چندراپرتاب سیاستمدار هندی که خود در ادب فارسی مطالعه داشت، تایید نموده و راجع به اولین ملاقاتش با او در پغمان درسال ۱۹۱۵مي نویسد: امیر در ادبیات فارسی ید طولایی داشت وغالبا از آثار نویسند ګان بزر ګ سلف نقل قول می کرد.)[2]

له دې یادونو څخه مي مراد دادئ، چې امیرحبیب الله خان د خپل پلار په شان، مستبدالرایه پاچا نه و او لکه ورانګي چي مي و ویل

---

[1] جیویټ - An American Engineer in Afghanistan - ۳۲۷، ۳۲۸ مخونه

[2] فرهنګ - میرمحمدصدیق - افغانستان درپنج قرن اخیر - دوهم ټوک - ۴۸۹ مخ - ۱۳۷۳ش

په ذهني لحاظ د نوي مدنیت لپاره آما ده سړی و.

په افغانستان کي د دغه وخت د بهرنیو مستخدمینو په باب ما (هوتک) د خپلو څېړنو په ترڅ کي د یوې رسالې په حجم یاداښتونه راغونډ کړي دي، چي دا دئ له درنو لوستونکو سره یې شریکوم او په خپل خیال کي مي دي، چي د امکاناتو په صورت کي یې د یوه مستقل اثر په توګه چاپ کړم. دا یاداښتونه ما(شین ستر ګي مستخدمین) بللي دي. د (شین ستر ګي) نوم د کندهار په حوزه کي د پرنګیانو او نورو اروپایانو لپاره کارېږي او ښایي په نورو پښتني سیمو کي هم رواج ولري.

لومړۍ برخه

د امیرعبدالرحمان خان د پاچهۍ دوره

۱۸۸۰-۱۹۰۱م

مسیو ژیروم M.Jerom*

دا سړی د فرانسې تبعه او لومړنی اروپایي انجنیر دئ چي د امیرعبدالرحمان خان له خوا استخدام سوی او کابل ته رابلل سوي و. نوموړی د برېښنا انجنیر و.[1] دا سړی موږ د امیرعبدالرحمان له خولې پېژنو. د ملي بیوګرافۍ قاموس په لومړي ټوک کي د سر سالتړ پاین د ماموریت د بیان په ترڅ کي د ده یادونه سوې ده او بې له دې، چي نوم یې واخلي لیکي، چي سر سالتړ پاین تر ورک سوي فرانسوي انجنیر وروسته لومړنی اروپایي دئ، چي افغانستان ته تللی دئ.[2] په تاج التواریخ (دلاهور، مشهد، تهران په دریو سرو چاپونو او د پېښور چاپ پښتو ژباړه) کي یې نوم په همدې شکل لیکلی او په انګریزي ژباړه کي یې Jerome ثبت کړی دئ. په سراج التواریخ کي د دې سړي نوم

---

*غبار په (افغانستان درمسیرتاریخ -۶۴۵مخ)کي دي د (شورم کریتسګر)په نامه راپېژني.

(۱) دغه مستخدمین زیاتره د انجنیر او مهندس په نامه یاد سوي دي. دا چي رشتیا به هم پخپل فن کي د دغه راز دګرۍ څښتنان وو، ما ته په دقیقه توګه معلومات نسته. امریکایي انجنیر اې. سي. جیویټA.C.Jewett چي د امیرحبیب الله خان په وخت کي کابل ته رابلل سوی و، پخپلو یاداښتو کي لیکي: (د امیر له فرانسوي اشپز پرته، چي یو آرټیسټ و او د زیاترو اروپایانو په شان یې د میاشتي یو زر هندۍ روپۍ تنخواه وه، نورو ټولو اروپایانو ځانونه انجیران بلل.) دی زیاتوي (د تعجب وړ نه ده، چي د افغانانو په نظر انجنیر یعني ګیج (سربداله) سړی؟ د جیویټ په باب به پر خپل ځای مفصل وړغېږم.)

(۲) وګورئ:The Dictionary of National Biography - لومړی ټوک -۵۷۸-۵۷۹-مخونه - د اکسفورډ یونیورسیټي پریس چاپ.

(شورم کریشگر) دئ هورې لولو: (و مقارن این حال شورم کریشگر) نام فرانسوي که درفن توپ وتفنگ سازی و غیره آلات حرب مهارت تامه داشت جهت اجرای کار کارخانه بخاری که در این سال به کابل احداث و ماشین های گوناگون بتوسط مستر مذکور که از حضور مامور کلکته شده و از فرنگستان به خواهش حضرت والا خریده و در کابل رسیده بود وارد پشاور گردیده چون ملازمت این دولت را اختیار کرده بود مخارج او را محمد اکبرخان بادامی با امر و اجازت حضرت والا کفایت نمود....(سراج التواریخ جلد ۳ صفحه ۲۵۴).

د سراج التواریخ مولف وروسته زیاتوي چي د ۱۸۸۶ع کال د دسمبر پر ۲۹مه له پاریس ښخه د نومړي فرانسوي لیک امیرعبدالرحمان ته ورسید او په هغه کي يې د پنځو تنو لایقو انجنیرانو او دغه راز خپل ورور لپاره افغانستان ته د ور تگ اجازه غوښتې وه. امیر د ده عریضه منظور او په پېښور کي يې د بادامو د خرڅولو مامور محمد اکبرخان ته سپارښتنه وکړه چي دوولس زره انگلیسي پونډه د بانک له لاري پاریس ته د مستر شورم کریشگر لپاره ولیږي څو له هغه ښخه کابل ته د خپل سفر لپاره استفاده وکړي. دغه راز يې مستر شورم ته سپارښتنه کړې وه چي له پاریس ښخه له ځان سره د طب يو ډاکټر هم کابل ته د امیر لپاره راولي.(سراج التواریخ ۳جلدصفحه۲۹۵) څرنگه چي د دغه فرانسوي مستخدم په باب د تاج التواریخ څرگندوني تر يوې اندازې مشرح بیان دئ، ځکه نو غواړم دلته ټوله را نقل کړم. امیر وايي (زه د ماشینو په اهمیت ښه پوه وم خو بهرنیو او کورنیو ستونزو موقع نه راکوله، چي د صنایعولوري ته په بشپړه توگه پام واړوم. په ۱۳۰۲ق کال له خپل پوه او دانشمند اشنا لارډ ډفرین سره، چي په هغه وخت کي يې پرهندوستان حکم چلاوه، دکتني لپاره راولپنډۍ ته تللی وم. په دغه وخت کي يې د مسیو ژیروم په نامه يو فرانسوی مهندس را ته

کېدلو کي دي هغه تجارتي و سیاسي سیالۍ او رقابتونه دخېل نه وي، چي هماغه وخت کي د سرو زرو د مرغۍ (هندوستان) پر سر د اروپايي انحصارګرو تر منځ روان وو او خبره يې آن څو واره جګړو ته رسولې وه.

دا یادابنت ما د ۲۰۰۲م کال په اکتوبر کي کښلی و. اوس (فبروري۲۰۰۳م) چي د ستیفن ویلر د کتاب The Ameer Abdur Rahman د لوستني موقع راته برابره سوه او هورې مي د مسیو ژیروم په باب څر ګندوني وکتلې، نومي خپل تېر ګومان په یقین بدل سو. ستیفن ویلر لیکي: (که څه هم عبدالرحمان پخپل پایتخت یا د پاچهۍ په کوم بل ځای کي د انګریزي استازي له همېشنۍ استوګني سره هیڅ کله هم خپل لږ شانته تمایل نه ؤ ښوولی، خو د هغو اروپایانو له خدمت څخه د استفادې لپاره په خوښۍ سره تیار و، چي دی د ځانونو آمر او استخداموونکی و ګڼي. په دې لړ کي يې... د مسیوژیروم په نامه د برېښنا یو فرانسوی انجنیر استخدام کړ. نوموړی د یوه کشمیري مسلمان په مشوره، چي هغه هم د امیر له مستخدمینو څخه و[1] په کابل کي د وسلو د کارخانې د تاسیس لپاره یوه استادانه طرحه ورکړه... مسیوژیروم په دې شرط د امیر خدمت ته حاضر سوی و، چي د ده په کارخانو کي به يې هیڅ کوم انګرېز نه استخدامېږي...) [2]

---

[1] دغه کشمیری مسلمان عبدالسبحان خان نومېدی، چي له امیر سره تر نوکرۍ پخوا يې د هند حکومت د سروې په ډیپارټمنټ کي کار کاوه. پخپله څانګه کي ماهر سړی و او له همدې امله یارقند ته و لېږل سو. د افغان و انګلیس د جګړې پر وخت يې هم د نقشه اخیستونکی په توګه کار کاوه. وروسته يې استعفا ورکړه او د امیر عبدالرحمان خان خدمت ته حاضر سو. ویل کیږي، چي په دغه وخت کي يې له انګلیسانو سره د سختي دښمنۍ مخ پر اېښی و.

علامه حبیبي وايي، چي د جلال آباد شاهي باغ د همدغه عبدالسبحان خان په مهندسۍ په ۱۸۸۵ م کي جوړ سوی دئ، (تاریخي پېښلیک - ۲۰۹ مخ)

[2] و ګورئ: The Ameer Abdur Rahman د Stephen Wheeler لیکنه - ۲۱۸، ۲۱۹ مخونه- لندن- ۱۸۹۵ م.

کېدلو کي دي هغه تجارتي و سیاسي سیالۍ او رقابتونه دخېل نه وي، چي هماغه وخت کي د سرو زرو د مرغۍ (هندوستان) پر سر د اروپايي انحصارګرو تر منځ روان وو او خبره يې آن څو واره جګړو ته رسولې وه.

دا یادابښت ما د ۲۰۰۲م کال په اکتوبر کي کښلی و. اوس (فبروري۲۰۰۳م) چي د ستیفن ویلر د کتاب The Ameer Abdur Rahman د لوستني موقع راته برابره سوه او هورې مي د مسیو ژیروم په باب څرګندوني وکتلې، نومي خپل تېر ګومان په یقین بدل سو. ستیفن ویلر لیکي: (که څه هم عبدالرحمان پخپل پایتخت یا د پاچهۍ په کوم بل ځای کي د انګرېزي استازي له همېشنۍ استوګني سره هیڅ کله هم خپل لږ شانته تمایل نه ؤ ښوولی، خو د هغو اروپایانو له خدمت څخه د استفادې لپاره په خوښۍ سره تیار و، چي دی د ځانونو آمر او استخداموونکی و ګڼي. په دې لړ کي يې... د مسیوژیروم په نامه د برېښنا یو فرانسوی انجنیر استخدام کړ. نوموړی د یوه کشمیري مسلمان په مشوره، چي هغه هم د امیر له مستخدمینو څخه و[1] په کابل کي د وسلو د کارخانې د تاسیس لپاره یوه استادانه طرحه ورکړه... مسیوژیروم په دې شرط د امیر خدمت ته حاضر سوی و، چي د ده په کارخانو کي به يې هیڅ کوم انګرېز نه استخدامېږي...)[2]

---

[1] دغه کشمیری مسلمان عبدالسبحان خان نومېدی، چي له امیر سره تر نوکرۍ پخوا يې د هند حکومت د سروې په ډیپارټمنټ کي کار کاوه. پخپله څانګه کي ماهر سړی و او له همدې امله یارقند ته و لېږل سو. د افغان و انګلیس د جګړې پر وخت يې هم د نقشه اخیستونکی په توګه کار کاوه. وروسته يې استعفا ورکړه او د امیر عبدالرحمان خان خدمت ته حاضر سو. ویل کیږي، چي په دغه وخت کي يې له انګلیسانو سره د سختي دښمنۍ مخ پر اېښی و.

علامه حبیبي وايي، چي د جلال آباد شاهي باغ د همدغه عبدالسبحان خان په مهندسۍ په ۱۸۸۵ م کي جوړ سوی دئ، (تاریخي پېښلیک - ۲۰۹ مخ)

[2] و ګورئ: Stephen Wheeler د The Ameer Abdur Rahman لیکنه - ۲۱۸، ۲۱۹ مخونه - لندن - ۱۸۹۵ م.

له دې څخه ښکاري چې په برتانوي هند د دغه انګليسي ضد انجنير ترې تم کېدل عادي خبره نه ده او زما مخکنی ګومان پر ځای و.

سرسالټر پاين[*] Sir Salter pyne

د دغه انګرېزي مهندس د استخدامولو جريان موږ ته په دوه ډوله را رسېدلی دئ. تاج التواريخ د امير له خولې ليکي، چې د فرانسوي مهندس ميسوژيروم تر ترې تم کېدلو وروسته د ده په لاس پېرودل سوي سامانونه په کابل کې کرياب پراته وو. امير وايي زه د دې سړی نه وم، چې يو کار دې پيل کړم او پر نيمګور دې يې پرېږدم. ځکه مې نو په هندوستان کې خپل سفير جنرال اميرمحمدخان[1] ته وليکل، چې د مسيوژيروم پر ځای يو بل مهندس له ترجمان سره را ولېږي. نوموړی همدغه سرسالترپاين، چې په کابل کې په مسترپاين سره مشهور و، له منشي سلطان محمدخان[2] سره يو ځای کابل ته راولېږل. دوی دواړه د ۱۸۸۷ م کال په اپرېل کې کابل ته راورسېدل.

په سراج التواريخ کې بيا لولو: (و مقارن اين حال مستر پاين نام و دوتن معدن شناس چينی و يک تن هندی که به منظوری امنای

(*) په افغانستان درپنج قرن اخير - اول جلد - اول قسمت - ۴۱۲ مخ کې "ساترپاين" راغلی دئ.

(۱) علامه حبيبي د دغه افغاني سفير نوم جنرال ميراحمدخان ښوولی دئ. (پښتليک - ۲۱۱ مخ) په افغانستان درمسير تاريخ - ۶۸۲ مخ او د انګرېزي تاج التواريخ په ۲۳ مخ کې "امير احمدخان" راوړی دئ.

(۲) سلطان محمد خان اصلاً هندوستانی و. کابل ته تر راتګ د مخه يې په هندوستان کې د افغاني نماينده جنرال اميراحمدخان منشي توب او ترجماني کول. وروسته بيا امير عبدالرحمان خان خپل ميرمنشي و ټاکه. Life of Amir Abdur Rahman. د همدغه سلطان محمد خان په قلم و ليکل سو، چې وروسته يې پارسي ترجمه د تاج التواريخ په نامه لومړی وار له مشهده (۱۹۰۱م)، بيا له بمبيي (۱۹۰۴ م) څخه خپره سوه. پارسي مترجمين يې غلام مرتضی خان قندهاری او حسين علی شيرازي دي. د تاج التواريخ پښتو ژباړه د ښاغلي عبدالقيوم زاهد "مشواڼي" لخوا سرته رسېدلې او د دانش کتابتون په همت په ۲۰۰۱ م کال چاپ سوې ده.

ګورنمنت عالیه هند برای لازمت دولت علیه افغانستان به خواهش حضرت والا شرف انتخاب یافته... در روز سه شنبه پنجم: جمادی الثاني محمداکبرخان مامور فروش بادام و مقیم شهر پشاور را فرمان شد... که مصارف زاد و راحله راه آنها را از آنجا تا کابل بدهد...) (سراج التواریخ ۳جلد ۲۹۷ صفحه) د سراج التواریخ پورتنی بیان د ۱۳۰۴ه ق د حوادثو په ترڅ کي راغلی دئ دا کال له ۱۸۸۷ع سره سمون خوري. انګلیسي منابع بیا په دې باب بل راز بیان لري. د دغو منابعو له مخي امیرعبدالرحمان خان په ۱۸۸۷م کال له یوه انګرېز مهندس سرتوماس مارتین (۱۸۵۰ - ۱۹۰۶ م) سره په کابل کي د ځینو صنعتي کارو په باب موافقه وکړه او نوموړي مهندس خپل استازی سرسالتر پاین کابل ته ولېږی. سالتر پاین لومړنی انګرېز دئ.چي د افغان و انګلیس تر جګړې وروسته په کابل کي استوګن سو.[1] دا موافقه به غالبه په هندوستان کي د افغاني استازي جنرال امیراحمد خان لخوا سر ته رسېدلې وي او د تاج التواریخ په بیان کي به هم مطلب همدا خبره وي.

سالتر پاین کابل ته تر رسېدلو وروسته د مسیوژیروم لخوا رانیول سوي کار خانې او ماشینونه سره تنظیم کړل او په کار یې واچول. په هغو کي د ترکاڼۍ، برمه کارۍ، ولډنګ کارۍ، ارې و رندې دستګاوي شاملي وې. د دې پر څنګ یې د سر توماس مارتین د شرکت په مرسته یوه جبه خانه، یوه ضرابخانه (د سکو وهلو دستګاه) او څو نوري دستګاوي او ورکشاپونه جوړ کړل. لکه وړاندي چي مو هم یادونه وکړه، امیر د کابل سیند پر غاړه د صنعتي کارخانجاتو لپاره یوه ټوټه مځکه تخصیص کړه او د "علم ګنج" نوم یې پر کښېښوو. دا مځکه دننې

---

[1] و ګورئ: ډکشنري آف نېشنل بیوګرافي - اول ټوک - ۵۷۸ مخ - اکسفورډ. سرتوماس مارتین د Under The absolute Amir د مولف فرانک مارتین مشر ورور و، چي وروسته به پر خپل ځای پر و بڼېږو.



د کابل ماشینخانه

کابل د ابن سینا روغتون ته مخامخ د رود پر شمالي څنډه واقع ده چي اوس هم د ماشینخانې په نامه یادیږي. مسټر پاین په کابل کي له څو میاشتو استوګني وروسته د کارخانو کار هندي کارګرانو ته پرېښوو او پخپله انګلستان ته په رخصتي ولاړ. دی اوولس میاشتي وروسته بیرته راستون سو. دا وار یې له ځان سره دري تنه نور هم راوستل چي یو یې جان الفرډګرې John Alfred Glfred [1]، بل یې مسټر ستېوارټ Mr. Stewart او دریم یې مسټر میډلیټن Mr. Middleton نومېدی.

پر مسټرپاین باندي د کابل هوا ښه نه لګېده او همدا سبب و، چي د خپل استخدام نیمه موده یې له افغانستانه بهر تېره کړه. خوله دې سره سره امیر عبدالرحمان خان د ده له کاره راضي و او لیکي "... علاوه بر احداث نمودن کارخانه جات مسترپاین بعضی خدمات دیگر هم بمن نموده است..."[2] رشتیا خبره هم دا ده چي سرسالټرپاین د مهندسۍ پر څنګ سیاسي ماموریت هم درلود او له کابله یې د بیا بیا وتلو سبب په ښکاره "د هوا نه لګېدل" بلل سوي خو ما ته داسي ښکاري، چي دې سفرونو به سیاسي انګېزه هم لرله.

سرسالټرپاین د امیر باوري سړي و او کله چي یې غوښتل له برتانوي هند سره د خپل هیواد د پولو پر سر خبري پیل کړي، له همدغه مسټرپاین څه یې د ځینو مسایلو او مراسلو په برخه کي کار اخیستی دئ. امیر له خپل تربور سرداراسحاق خان سره تر جګړې وروسته په کال ۱۸۰۹م کي د هندوستان

---

[1] جان الفرډګري د امیر عبدالرحمان خان جراح و، چي په افغانستان کي یې د خپلي استوګني بیان په یوه پنډ کتاب کي کړی دئ. دا کتاب At the court of the Amir نومیږي او په ۱۹۰۱ م کال له لندنه خپور سوی دئ. علامه حبیبي کابل ته د سټیورټ او مډلیټن راتګ د ۱۸۹۱ م کال په پېښنو کي راوړی خو د سرسالټر پاین د راتګ کال یې ۱۸۸۹ م (۱۳۰۷ ق) ښودلی دئ. (د افغانستان تاریخي پېښلیک - لومړی ټوک ۲۱۳-۲۱۲ مخونه. ۱۳۵۳ ش)

[2] سفرنامه و ... ۳۴۸ مخ.

وایسرا ته د یو لیک په ترڅ کي د افغانستان او برتانوي هند تر منځ د پولي له ټاکلو سره تیاری و ښود. لارډ لنسډون Lord Lansdown د امیر په جواب کي ور ته څرګنده کړه چي د لارډ رابرتس Lord Roberts په مشرۍ به یو هیات کابل ته درسي. دا هماغه رابرټس و، چي د غازي محمد ایوب خان په مشرۍ د افغاني لښکر له خوا د کندهار په میوند کي د انګریزانو تر سختي ماتي وروسته له افغاني مبارزینو څخه د غچ اخیستلو په نیت له یوه لوی لښکر سره پر افغانستان را اوښتی و او افغانانو ته یې د سر و مال درانه تاوانونه رسولي وو. امیر عبدالرحمان خان د دغي مسئلې په باریکۍ ښه پوهېدی، ځکه یې نو غوښتل، چي د لارډ رابرتس د سفارت په لار کي څنډ و ځنډ راولي او د هند له برتانوي مقاماتو سره خپل مسایل د سر مارتیمر دیورنډ پر لاس حل کړي. هندي مقامات د امیر په دغه تعلل پوه سول او امیر ته یې د یوه لیک په ترڅ کي، چي د یوه التیماټوم حیثیت یې درلود، ولیکل: "د هندوستان دولت نه سي کولای د امیر مبهمو وعدو ته انتظار و باسي". امیر سمدلاسه د هند وایسرا ته ولیکل، چي: "مستر پاین به زما لیک در وړي او ستاسي سره به د دغه سفارت په باب لازم ترتیبات و نیسي" خو مستر پاین ته یې لارښوونه وکړه چي ورو ورو سفر وکړي او هندو ستان ته ځان په ځنډ و رسوي، ځکه امیر غوښتلی و، چي د لارډ رابرتس د خدمت موده مخ پر بشپړېدو وه. امیر عبدالرحمان خان وایي، چي د دغه تدبیر په واسطه مي خپل مقصد تر سره سو ـ لارډ رابرتس انګلستان ته ولاړ او ماسمدلاسه د سرمارټیمر دیورنډ هیات کابل ته و مانه[1].

له دې بیانه مي هدف د ډیورنډ د منحوسي کرښي په باب نظر څرګندول او د دغي بدمرغي پېښي د جریان څېړل نه دي، بلکي مراد مي د امیر او مسترپاین د ډېرو نزدې اړیکو ښوول دي. په دې کي به څه شک نه وي، چي مستر پاین ته به همدا ماموریت ټاکل سوی و چي

---

[1] د تفصیل لپاره و ګورئ: سفرنامه ... ۴۴۷ـ۴۴۹ مخونه.

د امیر د باور تر جلبولو وروسته د انګرېزي مقاماتو د نقشو د عملي کېدو لپاره په اصطلاح مځکه پسته کړي. ده په زیاترو رسمي مراسمو کي برخه اخیستله. امیر به دلاس روغبړ ورسره کاوه. جان الفریډ ګري لیکي "امیر عبدالرحمان ته له مزار څخه کابل ته د راستنېدلو پر وخت د هر کلي لپاره مسټرپاین او دوه نور انګلیسي انجنیران تر ښار د باندي کلای قاضی ته ور وتلي وو.[1] دغه راز کله چي د سرمارټیمر دیورنډ هیات کابل ته ورسېد، د امیر د هر کلي پیغام د همدغه سالټر پاین لخوا ور ته و لوستل سو[2].

مسټر پاین ته په کابل کي پر روغتیایي ستونزو سربېره ځیني نور خطرونه هم پېښ سول. کابل ته د ده د دوهم سفر ملګری او د امیرعبدالرحمان خان شخصي جراح جان الفریډ ګرې پخپلو یاداښتو کي لیکي چي (کابل ته زموږ تر رسېدلو نزدې دوې اوونۍ وروسته موږ د آس په سپرلۍ د کابل رود پرغاړه ګرزېدلو. مسټر پاین تر موږ وړاندي و او کله چي پر یوه موړ(کونج) راتاو سوو، ګورو، چي د ده درک نسته. لږ څه وړاندي مو یوړغ تر غوږو سو، چي و مو کتل زموږ بدرګه سپاهي په تاخته ځان رود ته و رساوه او یو څوک یې له سینده راوکیښ)[3] دا سړی مسټر پاین و، چي که د افغان سپاهي مرسته نه وای نو امیر به د خپل یوه دوست انجنیر له خدمته بې برخي سوي وای.

سرسالټرپاین د ۱۸۹۵م کال په مي کي له کابله ولاړ او د مسټر کلیمینس او مسټر والټر مېرمني یې، چي کابل ته د ځومیاشتو تفریح لپاره راغلي وې، له ځان سره بوتلې.[4]

---

[1] جان الفرډګري ـ At the court of the Amir ـ ۳۵۵مخ ـ لندن ـ ۱۹۰۱م.
[2] ستیفن ویلر ـ The Ameer Abdur Rahman ۲۰۴مخ ـ لندن ـ ۱۸۹۵م .
[3] جان الفرډ ګري ـ ۹۰ـ۹۱مخونه.
[4] ستیفن ویلر ـThe Ameer Abdur Rahman ۲۲۵مخ ـ لندن ـ ۱۸۹۵م.

سر توماس مارتین Sir Thomas Martin

سرتوماس مارتین(۱۸۵۰-۱۹۰۶م) په هندوستان کي د یوه انګلیسي شرکت بنسټ ایښوونکی انګریز مهندس او د افغانستان لپاره جنرال اجنټ(سر استازی) و، چي په ۱۸۵۰م کال د مارچ پر شپږمه د انګلستان د بر منګهم په ښار کي زیږېدلی و. پلار يې پاتریک ویلیام مارتین Patrick William Martin نومېدی او د برمنګهم د څرمنو د صنایعو څښتن و. توماس مارتین تر لومړنیو زده کړو وروسته په برمنګهم کي د والش په انجنیري شرکت کي شامل سو او په ۱۸۷۴م کي د هندوستان د کلکتې په ښار کي د دغه شرکت د یوه برانچ د پرانیستلو لپاره هغه ښار ته ولاړ. هورې يې پخپل نامه یوه څانګه تاسیس کړه چي دغي څانګي بیا په ۱۸۸۹م کال د بنګال د او سپني او پولادو کمپنۍ جوړه کړه. د هندوستان د اور ګاډو د جوړولو زیاتره کارونه د دغي کمپنۍ لخوا سرښته سوي او د بنګال د سوندو(کتان) د زیاترو کارخانو و دانۍ د همدغي کمپنۍ لخوا جوړي سوي وې.

توماس مارتین د ۱۸۸۷م کال په سرکي د افغانستان له امیر، عبدالرحمان خان سره تر پېژندلو وروسته د نوموړي امیر لخوا په افغانستان کي د ځینو صنعتي تاسیساتو د جوړولو لپاره د نماینده په توګه و ګومارل سو. توماس مارتین د همدې مقصد لپاره سرسالتړ پاین کابل ته ولېږی. پخپله توماس مارتین په افغانستان کي کارنه دی کړی خو د ده د شرکت استازي سرسالټرپاین د نوموړي شرکت په مرسته یو شمېر کارخانې او ورکشاپونه جوړ کړل، چي همدغو ورکشاپونو د یو شمېر عصري صنایعو د منځ ته راتلو زمینه برابره کړه. توماس مارتین له امیرعبدالرحمان سره د سیاسي مسایلو په برخه کي پر له پسې همکاري کوله او امیر انګلستان ته د خپل زوی سردارنصرالله خان د سفر د سرښتې کار د همدغه توماس مارتین پر غاړه واچاوه او دی يې د سفر د هیات د مشر په توګه وټاکه.

د امیر د زوی سردارنصرالله خان دغه سفر په ۱۸۹۵م کال کي پېښ سو او په انګلستان کي د همدغه کال د می له څلېرویشتمي څخه د سپتمبر تر دریيمي پوري د رسمي مېلمه په توګه پاته سو. په دغه سفر کي که څه هم امیر خپل هدف، یعني له انګلستان سره د مستقیمو دیپلو ماټیکو اړیکو ټینګولو ته و نه رسېد، خو له توماس مارتین سره يې مناسبات د پخوا په شان دوستانه پاته سول. کله چي سردارنصرالله خان له انګلستانه خپل هیواد ته ستنېدی، نوموړي توماس مارتین خپل کشر ورور فرانک مارتین ور سره ملګری کړ. فرانک مارتین په کابل کي د مستر پاین پر ځای د کارخانجاتو عمومي انجنیر و ټاکل سو، چي بیان به يې په وروستیو پاڼو کي ولولئ. توماس مارتین ته د۱۸۹۵کال په اګسټ کي د انګلستان لوی لقبKnight ور کړه سو او په دا بل کال یعني د ۱۸۹۶م کال د اپریل پر نهه ویشتمه مړ سو.(۱)

فرانک. اې. مارتین Frank .a. Martin

دا انګلیسي انجنیر د پاتریک ویلیام مارتین زوی او د سر توماس مارتین کشر ورور و. نوموړی دوه واره کابل ته تللی و. واردواره په ۱۸۸۹م کي کابل ته و رسېد. امیر ورته د ورکشاپو په څنګ کي د استوګني لپاره ځای ورکړ. دوهم وارپه۱۸۹۵م کي د امیر د زوی سردارنصرالله خان سره له لندن څخه د کابل پر لور د سفر ملګری سو. دا چي تر لومړي وار راتګ وروسته څه وخت له کابله ووت، زما سره دقیق معلومات نسته خو له قراینو داسي ښکاري چي له سردارنصرالله خان سره به لندن ته د هغه د سفر پر وخت له کابله وتلی وي. د دغه سفر دبدرګه هیات مشري د ده د مشر ورور سرتوماس مارتین پر غاړه وه او دی به هم غالباً د هیات غړی و. کابل ته له دوهم وار ورتګ

---

(۱) د تفصیل لپاره و ګورئ: د ډیکشنري آف نېشنل بیو ګرافي ـ لومړی ټوک ـ ۵۷۸ـ ۵۷۹ مخونه ـ د اکسفورډ یونیورسیټي پریس چاپ.

وروسته یې څه د پاسه اته کاله په دغه ښار کي تېر کړي دي. په دې اتو کلونو کي د امیرعبدالرحمان خان د پاچهۍ وروستي شپږ کاله او د امیرحبیب الله (سراج الملةوالدین) د واکمنۍ د سر دوه یاځه زیات کلونه شامل دي. لکه وړاندي چي و ویل سول فرانک مارتین د امیرعبدالرحمان خان د زوی سردارنصرالله خان سره له انګلستانه د کابل پر لور په ټول سفر کي ملګری و. نوموړي د خپل دغه سفر او په کابل کي د خپلي استوګني جریانات او مشاهدات په یوه کتاب کي بیان کړي دي، چيUnder the absolute Amir نومېږي او په ۱۹۰۷م کال په لندن کي چاپ سوی دئ.[1]

فرانک مارتین د امیرعبدالرحمان خان لخوا د سرسالتر پاین پر ځای د کابل د کارخانجاتو مشر انجنیر وټاکل سو. د امیر په در بار کي د ډېر عزت څښتن و. د امیر له کورنۍ او در باریانو سره دومره نزدې و، چي د هغوی په کورنیو مسایلو، شخصي مخالفتو او تربګنیو ښه پوره خبر و. د کابل شاوخوا سیمي یې تر پښو کښلي وې. د عادي خلکو او کوڅو و بازار په حالاتو خبر ېدی او دا ټول حوداث یې پخپل کتاب کي بیان کړي دي. د ده کتاب د امیرعبدالرحمان خان د پاچهۍ او د هماغه وخت افغانستان په باب پخپله نوعه کي غالبًا دوهم کتاب و، چي په لندن کي خپور سوی و.(د دغي لړۍ لومړی کتاب به غالبًا د جان الفرد ګرې وي، چي At the court of the Amir نومېږي او په ۱۹۰۱م کال په لندن کي چاپ سوی دئ، چي زه به یې پر خپل ځای در وپېژنم).

د فرانک مارتین کتاب د هغه وخت افغانستان په تېره بیا کابل، د امیر، دربار او د هغه وخت د اداري سیستم د پېژندلو لپاره تر ټولو مفصل او مستند کتاب دی دا کتاب پر اتلسو څپرکو وېشل سوی او په منځ کي

---

[1] دا کتاب ما(هوتک) په پښتو ترجمه کړی او په جرمني کي د افغانستان د کلتوري ودي ټولني په همت په ۲۰۰۴م کال چاپ سوی دئ.

۳۰۵۱

د عبدالرحمان خان دربار ـ په عکس کي سردار حبيب الله خان هم ناست دئ
(د فرانک مارتين رسامي)

ځیني انځورونه او عکسونه هم لري. د کتاب زیاتره انځورونه د فرانک مارتین پخپل لاس رسم سوي دي. نوموړي له رسامۍ سره مینه درلوده او پکښې ماهر ښکاري. په پاړسي او اردو ژبو یې خبري کولای سوې.

فرانک مارتین د امیرحبیب الله خان د پاچهۍ د دوهم کال په پای یا د دریم په سر کي له کابله ووت او د پېښور له لاري هندوستان ته ستون سو.

جان الفرېډ ګرې[1] John Alfred Gray

دا سړی د امیرعبدالرحمان خان جراح ډاکټر و، چي په ۱۸۸۹م کال د سرسالټرپاین لخوا امیر ته ورمعرفي سو. ګرې له مسټرپاین سره په لندن کي وپیژندل او دا هغه وخت و، چي پاین د افغانستان له لنډ سفر څخه ستون سوی او د امیر لخوا یې د ځینو ماشین آلاتو د پېرودلو او د انجنیرۍ په کار کي د مرستیالانو او یوه انګلیسي جراح د استخدامولو احکام له ځان سره وړي وو. د جان الفرېډ ګرې ټول مسلکي ژوند تر دغه ګړیه، چي له مسټرپاین سره معرفي کېدی، په لندن کي تېر سوی و او هورې یې د نقرس ناروغۍ ډېر ناروغان تر علاج لاندي وو. د کابل د امیر په دربار کي د ده د استخدامولو یوه انګېزه هم دا وه، چي امیر د نقرس په ناروغۍ مبتلا و. په لندن کي د ده استاد ډاکټر لاوډر برنټن Dr.Lauder Brunton نومېدی.

جان الفرېډګرې کابل ته د لومړي وار راتګ په لار کي د ۱۸۸۸م کال په سپټمبر کي هندوستان ته ورسېد. هورې یې د افغانستان په باب ښه زیاته اندازه معلومات تر لاسه کړل او د همدغه کال په مارچ کي یې له مسټرپاین او دوو نورو انګلیسي انجنیرانو(سټیوارټ او میډلیټن) سره یو ځای افغاني بګړۍ تر سر تاو کړې، له پېښوره مخ پر کابل رهي

---

[1] د جان الفرېډ ګرې په باب مو معلومات له هغه کتابه راغونډ کړي دي چي د ده په قلم لیکل سوی او په کال۱۹۰۱م له لندنه خپور سوی دئ. دا کتاب At the court of the Amir نومېږي.

سول. د سفر وسایل(افغاني جامې، خیمه،اسان او نور لوازم) ور ته د امیرعبدالرحمان خان د استازي عبدالخالق خان لخوا برابر سوي وو.

د سراج التواریخ مولف هم دې ته ورته بیان لري. دی لیکي: (و هم در این وقت مستړپاین نام انگلیس که خدمت و ملازمت دولت افغانستان را اختیار کرده و از حضور اقدس والا جهت خریدن آلات و ادوات کارخانه بخاری در فرنگستان رفته بود با دوتن انجنیر از مردم انگلیس و داکتر ګرې نام و دوازده تن مستری از مسلمانان سکنهٔ هند وارد کابل شده...) (سراج التواریخ جلد۳ صفحه۴۸۲) جان الفرېډ ګرې په داسي وخت کي کابل ته ورسېدی چي امیرعبدالرحمان خان د خپل یاغي تر بور سردار اسحاق خان سره د جګړې په نیت ترکستان ته تللی و[1] دی پخپل کتاب کي لیکي (... موږ ته و ویل سوه، چي امیر په ترکستان کي له خپل یاغي تربور سره په جګړه بوخت دئ او د امیر مشر زوی شهزاده حبیب الله به موږ په قصر کي و مني. مقدماتي کتنه مو د خزانې له مشر جان محمد خان سره و سوه. له دې سړي سره مسټر پاین له پخوا پېژندل...) [2] ګرې ته د کابل د ماشینخانې په و دانیو کي ځای ور کړه سو او هورې له مسټرپاین سره یو ځای اوسېدی. دی وایي (له مسټرپاین څخه مي اورېدلي و، چي په کابل کي یو ښاري روغتون سته. له څو ساتونکو سره د دغه روغتون د کتلو لپاره رهي سوم. روغتون تر ارګ د باندي د ښار او شیرپور د عسکري چوڼۍ تر منځ په یو لړ

---

[1] امیر د سردار اسحاق خان د ځپلو په نیت د۱۳۰۶ق کال په صفره کي(۱۸۸۸م) مزار ته ولاړ او د۱۳۰۷ه کال په ذي القعده کي کابل ته راستون سو(پېښلیک ـ ۲۱۰، ۲۱۱مخونه). ده د دغه پښتانه سردار له پلویانو سره دومره قاتلانه رویه غوره کړه، چي ان د انګلستان د عوامو په مجلس کي د Mr. Bradlaugh لخوا په یوه لیک کي د دغو مجازاتو له امله اندېښنه ښوول سوې وه. (و ګورئ: ستیفن ویلر- The Ameer Abdur Rahman ـ۱۵۵مخ لندن ـ۱۸۹۵م).

[2] At the court of the Amir. ـ۳۳ـ۳۴ مخونه. جان محمد خان د ۱۸۸۹م په سپتمبر کي د خیانت په الزام له کاره وایستل سو.(د افغانستان تاریخي پېښلیک ـ ۲۱۲مخ)

حکومتي و دانيو کې واقع و. چونې انګر یزانو ښخوا جوړه کړې وه او The Old Mall يې بلله... يو بل روغتون په ارګ کې هم و.)[1] جان الفريډ ګرې په دغه روغتون کې خپل کار په ۱۸۸۹م کې پيل کړ. له ده سره په روغتون کې هندوستاني ډاکټرانو هم د مرستيالانو په توګه کار کاوه. دا ډاکټران، چې دی يې پوه خلک نه ګڼي، تر ده ښخوا کابل ته راغلي وو. جان الفريډ په کابل کې تر لنډې مودې کار کولو وروسته د امير په حکم مزار شريف ته وغوښتل سو او هورې يې د امير د خاص معالج او د مزار د پوځي روغتون د مشر په توګه کار پيل کړ. امير ور ته په هغه کور کې د استوګنې اجازه ور کړه چې تر ده ښخوا يو وخت امير شير عليخان ژوند پکښې کاوه او همدلته وفات سو، بيا ښخپله امير عبدالرحمان پکښې اوسېدی او څه موده د سردار اسحاق استوګنځی و.[2] په مزار کې تر ده وړاندې د امير معالجين دوه تنه طبيبان وو چې يو يې ميرزا عبدالرشيد نومېدی "دا سړی د افغانانو په پرتله تعليم يافته ګڼل کېدی او د شپې لخوا به يې امير ته د ښخوانيو پاچهانو کتابونه، سفرنامې، د جغرافيې، تاريخ عمومي معلوماتو هغه کتابونه لوستل، چې په پاړسي ژباړل سوي وو"[3].

جان الفريډ ګرې له امير سره يو ځای کابل ته راستون سو او دلته د امير او هغه د ملکې خاص معالج و خو په ښاري روغتون کې عامه خلک هم تداوي کول. دی وايي چې "د پسرلي او دوبي په موسمونو کې يې د ورځې سل... سل و دېرش ناروغان کتل او ځيني خو له ډېرو ليرو ليرو فاصلو، ترکستان، کندهار، هرات او کافرستان (نورستان ... م.هـ) څخه ور ته راتلل" [4]. د ده د دغو خدمتونو په بدل کې امير ور ته د نوروز په جشن کې

---

[1] ر At the court of the Amir ـ ۴۱، ۱۱۵مخونه.

[2] هماغه اثر ـ ۱۵۳ مخ.

[3] هماغه اثر ـ ۱۵۶ مخ.

[4] هماغه اثر ـ ۴۲۹ مخ.

د سرو زرو مډال او پنځه زره روپۍ د انعام په توګه ور کړې.[۱]

ګرې په کابل کې د خپلې استوګنې په وخت کې فارسي ژبه یو څه زده کړه او استاد یې د امیر په دربار کې د برتانوي استازي سکرتر منشي امین الله و.[۲] دغه راز یې د افغانستان د تاریخ مطالعه هم کړې وه او د ده کتاب له لوستلو څخه سړی پوهېږي، چې په دې برخه کې د انګرېزي لیکوالو او په تېره بیا والټر بیلیو آثار کتلي وو. ده د خپل کتاب په یوه برخه کې د معاصر افغانستان د شاهانو لنډ بیان هم راوړی دئ[۳]. جان الفریډ ګرې په کابل کې تر څه د پاسه دوو کلونو ژوند وروسته لندن ته د واده کولو لپاره د امیر په فرمان او اجازه ولاړ.[۴] او تر واده کولو وروسته د ۱۸۹۲ م کال په مارچ کې بیرته کابل ته راستون سو او امیر ته یې د نورو تحفو په څنګ کې دوه د ګولیو توپک او یو ښکاري توپک په سوغات راوړل. دا چې دا ځل یې څومره وخت په کابل کې تېر کړ، ما ته څرګنده نه سوه خو دومره راته معلومه ده چې د امیر عبدالرحمان په ژوند له کابله ووت او د ده خبره "مدنیت ته ستون سو".

جان الفریډ ګرې ته د رخصتۍ په نیامت د تګ په وخت کې پر څلوېښت زره اته سوه روپیو کلنۍ تنخواه سر بېره اتلس زره انګلیسي پونډ هم ورکړه سول. دا وروستی رقم د امیر له خوا د انعام په توګه ورکول سوی و. دغه راز یې د ده تر جمان ته، چې یحیٰی نومېدی دوه زره روپۍ بخشیش منظور سوی و. ډاکتر ګرې ته له کابل څخه د وتو پر وخت جمعاً شپېته زره و اته سوه انګلیسي روپۍ او یولک شل زره کابلۍ روپۍ حواله سوې او په لاس ور کړه سوې. (سراج التواریخ ۳ جلد...).

---

[۱] هماغه اثر - ۲۹۳ مخ.

[۲] په دغه وخت کې په کابل کې د انګرېز سفیر کرنیل عطاؤ الله خان و. تر ده وروسته محمد افضل خان ګنډه پور په کابل کې سفیر و ټاکل سو. (تاریخي پېښلیک - ۲۱۱ مخ).

[۳] At the court of the Amir - ۱۹۴ . ۱۹۵ مخونه.

[۴] د دغه فرمان انګرېزي ژباړه یې د خپل کتاب په ۴۴۹ مخ کې راوړې ده. د فرمان نېټه د ۱۸۹۱ م کال د جون دوهمه ده.

۳۴۵۱



امیر عبدالرحمن خان

د جان الفريډ گرې رسامي

ډاکټر اومېرا Dr. O'Meara

ډاکټر اومېرا[۱] د غاښو ډاکټر او افغانستان ته دوهم انګرېز مستخدم وچي په ۱۸۸۶ م کال کابل ته د دې لپاره را وغوښتل سو، چي امیر عبدالرحمان ته یوه جوړه غاښونه ورتیار کړي. نوموړی ډاکټر څو میاشتي په کابل کي پاته سو او په دغه موده کي یې څو تنه شاګردان وروزل، چي تر ټولو رسېدلی شاګرد یې صوفي عبدالحق نومېدی.

فیض محمد کاتب کابل ته د نوموړي ډاکټر د رسېدلو په باب لیکي: (در روزیکشنبه بیست و سوم ماه ذی قعده داکتر او میرا نام دندانساز که ملازمت دولت افغانستان را اختیار کرده و رهسپار خدمت شده بود وارد پشاور گردیده و میرزا عبدالخالق خان مامور فروش بادام به امر حضرت والاتهیه سفر او را نموده باعزاز و اکرام رهنورد کابل ساخت...) (سراج التواریخ جلد ۳ صفحه ۳۵۳).

ډاکټر او میرا د ۱۸۸۷ م کال په پای کي له کابله هندوستان ته ولاړ او هورې یې د امیر عبدالرحمان د شخصیت، استعداد او ادارې په باب لیکني وکړې چي امیر یې یادونه پخپل کتاب (تاج التواریخ) کړې ده. د ډاکټر اومېرا په باب د تاج التواریخ تر یادونو په هاخوا ما ډېر څه و نه موندل. ستېفن ویلر د ده په باب لیکي "ډاکټر اومیرا... د غاښو جراح او د خپل مسلکي مهارت په وجه کابل ته بلل سوی و. کابل ته د ده تګ خطر ناک ګڼل کېده خو له دې سره سره دی له کابله په ټولو تنیو ووت او له خپل سفره ډېر خوشاله او راضي و. د ده په نظر امیر په دولتي چارو ډېر مصروف و او ټوله ورځ به یې له خلکو سره لیدني کتني کولې. د ده د غاښو ایستل او نوي غاښونه ور ایښوول په عام دربار کي سر ته ورسېدل ...."

پر مسټر اومېرا باندي د امیر چلند ډېره اغېزه کړې وه. دی وایي کله

---

[۱] د تاج التواریخ د پارسي ترجمې په ټولو چاپو او دغه راز په پښتو ژباړه کي دا نوم مسټر او میارا دئ چي زما په فکر سمه لوستنه نه ده.

چي امير په پغمان کي د دوبي له استوګنځي څخه کابل ته راستنېدی، له هر چا ان له يوې بوډۍ ښځي څخه يې د عريضي اخيستلو لپاره آس و دراوه." ستيفن ويلر زياتوي، چي "تر دغي پېښي څلوېښت کاله وړاندي يوه امريکا يي ګرځندوی مسټر هارلن Mr. Harlon امير دوست محمد خان د همداسي يوه عمل په وخت کي ليدلی و." (۱)

ډاکټر جان الفريډ ګري يې پخپل کتاب کي د امير له خولې يوه لنډه شانته يادونه داسي کوي "يو سهار امير حال را وکړ، چي د ايبکو حاکم په خوله کي د ګولۍ واری خوړلی دئ او معاينې ته يې بايد ورسم. د ناروغ تر کتلو او د ټپ تر پاکولو وروسته مي امير ته پيشنهاد وکړ، چي زخمي ته دي د سرو زرو تالو جوړ سي. امير و ويل په کابل کي يو څوک سته، چي د انګرېز غاښ جوړوونکي ډاکټر اوميرا تر لاس لاندي روزل سوی دئ. دی به ور ته دغه راز تالو جوړ کړي او که لازمه سوه مصنوعي غاښونه به ور کښېږدي"(۲) د امير مراد هماغه صوفي عبدالحق و، چي وړاندي يې يادونه وسوه.

کپتان ګريسباخ Captain Griesbach

دغه انګرېز پوځي، چي په کابل کي د امير لخوا د جيولوجيسټ په نامه استخدام سوی و، په سراج التواريخ کي يې نوم "سی ال کريس ماخ" ليکل سوی دئ هورې لولو: "و درخلال اين احوال عريضه سی ال کريس ماخ، معدن شناس انګليس به شرف مطالعه حضرت والا پيوسته چون اقتضای ملازمت و ادعای خدمت دولت افغانستان را کرده بود، عرضش پذيرفته ګشته در روز پانزدهم ماه ربيع الثانی فرمان طلب بنام او صادر شد..." (سراج التواريخ جلد ۳ صفحه ۳۸۷) دا مطلب د ۱۳۰۵ ق کال د حوادثو په لړ کي راغلی دئ او د دې کال يوه برخه په ۱۸۸۷ ع کي

---

(۱) ستيفن ويلر ـ The Ameer Abdur Rahman ـ ۲۲۰ مخ. ده کابل ته د ډاکټر اوميرا سفر په ۱۸۸۷ م کي ښللی دئ.

(۲) جان الفريډ ګري ـ At the Court of the Amir ـ ۳۴۷ مخ.

راځي. د جان الفرید ګرې له خولې هم نوموړی پیژنو. دی لیکي "په مزار شریف کي له امیر عبدالرحمان خان سره د لومړي وار پیژندګلوۍ او د هغه د نقرس ناروغۍ د معاینه کولو پر وخت امیر ته څیرمه یو بل اروپایي ناست و، چي کپتان ګریسباخ Captain C. L. Griesbach نومېدی. ما واورېدله چي دغه ښاغلي له امیر سره د جیولوجیسټ په توګه تقریباً دوه کاله تېر کړي وو." دی زیاتوي "د امیر تر بشپړي معاینې وروسته زه او دغه کپتان ګریسباخ یو ځای له درباره راووتو او د کپتان کور ته ولاړو او د شپې ډوډۍ مو سره و خوړه. کپتان را ته و ویل، چي له امیر سره د پاته کېدلو خیال نه لرې او غواړي هند ته ستون سي او د بر تانوي حکومت تر بیرغ لاندي خدمت ته دوام ورکړي."(۱) د جان الفرید له وینا داسي ښکاري چي دغه شخص په اصل کي پوځي سړی و او دا چي امیر ته څرنګه د جیولوجیسټ په نامه ور پیژندل سوی و، ما ته پوره معلومات نسته. دومره ویلای سم چي دغه په اصطلاح انجنیرانو زیاتره سیاسي او پوځي ماموریتونه درلودل.

کپتان ګریسباخ په دغه شپه جان الفرید ته د امیر عبدالرحمان خان د شخصیت، په ترکستان کي د ژوند او د سردار اسحاق خان له پلویانو سره د امیر د وحشتناک سلوک په باب اوږدې کیسې وکړې. جان وایي "مزار ته زما تر رسېدلو یو دوې اونۍ وروسته کپتان ګریسباخ له یوه بل هندوستاني ترجمان سره هند ته ستون سو." (۲)

کپتان ګریسباخ په کابل کي له خپلي وظیفې څخه ناراض ښکارېدی. ده جان الفرید ته ویلي و "څرنګه د ده د کارونو مخه نیول کېده، څرنګه ده ته هر ګټور کار ناممکنه و او څرنګه په ده پسې اوازې خپرې وې، چي له ده سره د یاداښت کتابچه سته او هر ارزښتناک مینرال چي پیدا کړي،

---

(۱) At the Court of the Amir. ۱۶۰ مخ.

(۲) هماغه اثر ـ ۱۶۱ مخ.

تر امیر د مخه یې رپوټ برتانوي حکومت ته ور کوي." (۱)

ګرې وايي، دغه اوازې ده هم اورېدلي وې. ښه، دا خو د یوه انګرېز د خولې بیان دئ او لیري نه ده، چې دې ټولو خبرو دي حقیقت هم درلود موږ ته د هیواد د کانونو د موندلو او را ایستلو په برخه کي د امیر خیالات معلوم دي. دی په دې برخه کي د بهرنیانو په ارادو او نیتو ښه پوره پوه و. د هغوی استعماري مقاصد ور ته څرګند وو. دی که څه هم خپلي د زړه خبري په بشپړ تفصیل سره نه کوي او خپلو اخلاقو ته په ګومه (کنایه) نصیحت کوي. دی وايي "به پسرها و اخلاف خود باکمال تاکید نصیحت مي نمایم که انحصار معدنیات خود را به هیچ خارجي ندهند و نګذارند در معادن آنها کمپانیهای خارجی مداخله نمایند والا دچار اشکالات عدیده شده بهانه بدست خارجی خواهند داد که در امورات مملکت... مداخله نمایند، به خیال من صحیح نیست که این مطلب را مشروحاً بیان نمایم... اشاره ازمن دراین فقره کافی باشد که پسرها و اخلاف مرامتنبه سازد که ابداً خود را با ملل خارج در کارهای پر پیچ و خم نیندازند، همین که باید از مردمان خارج از دادن امتیازات اجتناب نمایند، بلکه مخصوصاً اهل فرنګستان را نګذارند که در مملکت آنها دایماً زیست نمایند..."(۲) له دې نقل قول څخه به درنو لوستونکو ته څرګنده سوې وي، چي امیر د معدنیاتو په برخه کي پر بهرنیانو باندي شکمن و او همدا وجه وه، چي کپتان ګریسباخ په خلاص مټ د افغانستان د معدنیاتو سروې ته نه پرېښوول کېدلی.

کپتان ګریسباخ په هغه ورځ له امیر سره ناست و، چي د هراتی پلټني یو سرتېري پر امیر باندي د توپک ډز وکړ. په دغه پېښه کي امیر بچ سو او ګولۍ په یوه غلام بچه کي و نښتله (۳) دا پېښه په ۱۸۸۸ م کي

---

(۱) هماغه اثر ـ ۴۳۱ مخ.

(۲) سفرنامه .... ـ ۳۷۸ مخ.

(۳) At the court of the Amir ـ ۲۳۶ مخ.

واقع سوې وه، چي موږ د امیر له خولې هم په خبر یو. جان الفرید د کپتان گریسباخ له خولې وایي، په دغه شېبه کي، چي د گولۍ واري کېږي امیر په تصادفي توگه د یو شي د را اخیستلو لپاره مخکي ته کږېږي، گولۍ ور څخه خطا کېږي او په غلام بچه کي نښلي. د دغه غلام بچه تداوي د جان الفرید گرې لخوا تر پېښي دوولس میاشتي وروسته وسوه.[1] امیر دې پېښي ته خرافاتي رنگ ورکوي. دی وایي "... درماه ربیع الثاني ۱۳۰۶ ق روزی مشغول دیدن عساکر مقیم مزارشریف بودم. در این بین یکی از سربازها گلوله از تفنگ خود به طرف من خالی نمود، چیزی نمانده بود که کشته شوم و اینکه جان بسلامت بدر بردم سری است که نه خودم و نه آنها یی که حاضر بودند توانستیم بفهمیم، چرا که فهمیدن این معنٰی ناممکن است که چطور گلوله تفنگ وسط صندلی که روی آن نشسته بودم سوراخ نموده است و بعوض اینکه از بدن من بگذرد به غلام بچه که عقب سر من ایستاده خور ده او را سخت مجروح نموده...". امیر د دې پېښې علت له قضا و قدر او د اجل له موعد سره تړي، چي د اسلامي عقیدې له مخي یو حقیقت دئ خو وروسته بیا د خرافاتو لمن ټینگوي او اصلي علت دا سي بیانوي: "... در زمانی که طفل بودم به من گفتند شخص مقدسی طلسمی دارد که به کاغذ مي نویسد، هر کس باخود نگاه بدارد هیچ اسلحه ناری یا اسلحه دیگر به او کار نمی کند. اول اثر این طلسم را معتقد نبودم لهذا طلسم مذکور را به گردن گوسفندی بسته امتحان کردم، اگر چه خیلی سعی کردم حیوان مذکور را بگلوله بزنم، ولی هیچ گلوله به او صدمه نزد. به این دلیل ناطق به طلسم مذکور معتقد شده به بازوی راست خودم بسته از طفولیت تا کنون همراه دارم. اعتقادم این است اسباب حفاظت من همین طلسم شده است"[2].

---

[1] ستیفن ویلر ـ The Ameer Abdur Rahman ـ ۱۵۶ مخ.

[2] سفرنامه... ـ ۲۸۴ ـ ۲۸۵ مخونه.

کپتان ګریسباخ تر خپل ناکام ماموریت وروسته غالباً د ۱۸۸۸ م په پای کي له افغانستانه و وت او پر ځای یې ارترکولینز د جیولوجیست په توګه استخدام سو. ستهفن ویلر لیکي، چي په ۱۸۹۵ م کال کي کپتان ګریسباخ د هند د جیولوجیکي سروې د مشر په توګه کار کاوه[1].

د Historical & Political Gazetteer of Afghanistan دانشمند امریکایي لیکوال لودویک ادمکLudwig Adamac د خپل دغه ارزښتناک ضخیم اثر د پنځم ټوک، چي کندهار او جنوب ـ مرکزي افغانستان ته وقف سوی دئ، په سریزه کي د خپلو نورو منابعو او ماخذونو د یادوني په ترڅ کي د G.L. Griesbach نوم اخلي او د ده له Geological Survey of India نومي رپوټ څخه د کندهار د جیولوجیکي څېړني په برخه کي ښه ډېره استفاده کوي. دغه رپوټ د ۱۸۸۰ع کال په جون کي د نوموړي ګریسباخ لخوا برابر سوی و[2].

ګریسباخ ته د انګلستان د حکومت لخوا د Esquire لقب ورکړه سوی و. دا لقب تر Knight لږ څه ټیټ لقب دئ.

ارترکولینز Arthur Collins, F.G.S.

د امیرعبدالرحمان خان په تاج التواریخ کي د دغه سړي یادونه نسته او زه یې د جان الفرېډ ګرې د سفر نامې At the court of the Amir له مخي درپېژنم. ارتر کولینز د کپتان ګریسباخ وروسته د امیر لخوا د جیولوجیسټ په توګه استخدام سوی او په اصل کي د انګلستان د کورنیو چارو د دفتر لخوا د امیر استازي ته ورپېژندل سوی و[×]

---

[1] ستیفن ویلر ـ ۲۲۲ مخ.

[2] وګورئ: لودویک ادمک Historical & Political Gazetter of Afghanistan ـ پنځم ټوک ـ د سریزي ۵ ... XIX ... XVI مخونه ـ ۱۹۸۰ع.

[×] له دې څخه څوک داسي حدس هم وهلای سي چي د دې شخص پر غاړه به یوازي د کانونو په برخه کي د څېړني کار پروت نه و.

جان الفريډ گرې ليکي(تر ۱۸۹۲ کال وروسته کله چې مسټر پاين له انګلستانه کابل ته راستنېدی، همدغه ارتر کولينز يې له ځان سره راووست، چې د جيولوجيسټ په توګه يې خدمت ته شامل کړي. له مسټر کولينز سره دوه نور مرستيالان هم راغلي وو، چې يو يې د کانو مرستيال او بل يې ډېره پېژندونکی (Lapidary) و[1] دا دوهم ډېره موده په کابل کې پاته نه سو، ځکه څرګنده سوه، چې محلي کار کوونکي تر ده پخپل کار کې ډېر اغېزمن دي. جان الفريډ ګرې چې له مزار شريف څخه کابل ته راستنېدلی، پر لاري يې د باميانو د بتانو ننداره کړې وه. دی پخپل کتاب کې ليکي(د غټ بت په سر کې د ګچو د نقاشۍ پيکه نښانې سته او مسټر کولينز جيولوجيسټ د هغو د عکاسۍ سرښته وکړه. ماته څرګنده نه سوه چې دا نقاشي چا کړي وي. د غره پر مخ د بتانو څنګ ته په ډېره کې کيندل سوي غارونه هم سته چې ځيني يې په ښکلي ډول کيندل سوي دي). ګرې زياتوي، چې کولينز دغه غارونه کتلي او عقيده لري چې(دا په سخته ډېره کې کيندل سوي او د رانه معدني قير استر ورکول سوی دئ)[2]د ګرې له ليکني څخه ښکاري، چې کولينز په دې برخه کې ليکني کړي دي ځکه ګرې يې نقل اخيستی او په قوسينو کې يې راوړی دئ. ارتر کولينز په کابل کې د جان الفريډ ګرې د استوګې په وخت کې موجود او د جان الفريډ اشنا و. له هغه سره به تل له ښاره بهر په چکر واته. ګرې وايي(د ارتر کارونه کپتان ګريسباخ ته ورته وو. تل به د يوه ګارډ لخوا سخت تعقيبېدی... ده څو مياشتي وروسته د ځينو جيولوجيکي ساختمانو په زړه پوري عکسونه واخيستل خو سمدلاسه رپوټ ور کړه سو چې نوی جيولوجيسټ يو سياسي ايجنټ دئ. دی کابل ته راوبلل سو او د کپتان ګريسباخ

---

(۱) At the court of the Amir ـ ۴۷۵مخ.

(۲) هماغه اثر ـ ۱۴۴مخ.

په شان څو میاشتي بېکاره ناست و. په پای کي ده هم استعفا ور کړه.) [۱]
مسټر کولینز د شطرنج شوقي و او له امیر سره یې لوبه کړې وه خو بایللې یې وه. ګرې د کولینز له خولې لیکي(امیر کولای سي د لندن په دوهمه درجه شطرنج بازانو کي ښه ځای ولري) [۲] کولینز ښه لامبوزن هم و او کله چي له جان الفرېډ ګرې سره مخ پر هندوستان روان و، ډکې ته نزدې یې د کابل په څپاند سیند کي لامبو وکړه.

مسټر سټیوارټ Stewart

مسټر سټیوارټ د توپ جوړولو تجربه کار مهندس او د انګلستان تبعه و چي د امیرعبدالرحمان خان لخوا په کابل کي د دغو چارو د پر مخ بیولو لپاره استخدام سوی و. دی په ۱۸۸۹م کال له مسټر پاین سره له انګلستانه کابل ته راغی. په عمر پوخ سړی و.(کابل ته د مسټر پاین دا دوهم وار راتګ و. لومړی وار په ۱۸۸۷م کي کابل ته تللی و او فقط څو میاشتي یې تېري کړي وې.) د مسټر سټیوارټ د ژوند په باب مي نور څه تر لاسه نه کړل. امیرعبدالرحمان خان یې په تاج التواریخ کي یادونه کړې او له کاره یې ډېر رضاییت ښوولی دئ. ده لیکلي(علاوه براینکه مستر ستیورت شخص خیلی قابل و تجربه کار بود و خیلی زحمتکش و قلباً مایل به کار و نهایت ظریف و خوشطبع بود، اگرچه آدم معمری بود ولی در کار خود خیلی چابک و چالاک رفتار میکرد.) [۳]

---

(۱) هماغه اثر ـ ۴۳۲مخ.
(۲) هماغه اثر ـ ۴۸۷مخ.
(۳) سفر نامه ... ـ ۳۴۷مخ.

مسټر میکډرماټ[۱] McDermat.

مسټر میکډرماټ انګلیسي د کابل په دولتي ضرابخانه (د سکو وهلو کارخانه) کې کار کاوه. تر ده وړاندې د افغانستان مسکوکات په لرغوني توګه په لاس تویېدل. په ۱۸۹۶م کال کې چې امیر عبدالرحمان خان ته د (ضیاءالملة والدین) لقب ورکړه سو او په سکو کې د دغه لقب د ثبتولو تجویز ونیول سو، امیر د همدغه میکډرماټ انګلیس په وسیله د کابل په ضرابخانه کې په همدغه لقب سکې و وهلې. د هغه وخت سکې یوه شاهي، دوې شاهۍ، روپۍ، غران او تنګه وې. شاهۍ او دوې شاهیزي د مسو وې او روپۍ، غران او تنګې د سپینو زرو وې.[۲] میکډرماټ ډېر کابلي او هندي شاګردان و روزل، چې تر ده وروسته یې د ضرابخانې چارې په ښه توګه پر مخ بېولې.

اې. سي. جیویټ امریکایي، چې د امیرحبیب الله خان (سراج الملة والدین) په پاچهي کې د جبل السراج د برېښنا د تاسیساتو انجینیر ؤ د افغاني سکو اضعاف او اجزاء داسې ښوولي دي:

یوه روپۍ = ۲ غرانه = ۳ عباسۍ = ۶ سناره = ۱۲ شاهۍ.[۳]

---

(۱) د هغو کسانو پر نومونو باندې سل په سلو کې باوري نه یم چې له تاج التواریخ څخه رانقل سوي دي. ما تر وسه وسه کوښښ کړی دئ چې د نومونو سمه بڼه پیدا کړم. په ځینو برخو کې نه یم بریالی سوی. (هوتک)

(۲) سفر نامه و ... ۳۴۴مخ. (د شاهۍ تلفظ ما په وړکینه په کندهار کې "ښاهۍ" اورېدلی دئ.)

(۳) An American Engineer in Afghanistan. ۳۰۶مخ.

مستر میډلټن Middleton[۱]

دغه انګریز انجنیر د امیرعبدالرحمان په پاچهي کي استخدام سو او د هنري مارتیني توپکو لپاره یې د کارتوس جوړولو کارخانه تاسیس کړه او په دې برخه کي یې ښه تکړه افغاني شاګردان وروزل. په دغه کارخانه کي د ورځي دوولس زره کارتوس تولیدېدلای سول.[۲] علامه حبیبي د دغي کارخانې جوړېدل د ۱۸۹۱م کال په پېښو کي راوړي او د جوړېدلو میاشت یې جنوري بولي.[۳] له مستر میډلیټن سره سټیوارټ نومی انجنیر هم په کابل کي مقرر سوی و. دی هم انګریز و. زما د همدې لیکني په ۲۵، ۳۱او ۴۲ مخونو کي د سټیوارټ لنډه شاني یادونه سته.

مستر میډلیټن په کابل کي د جان الفرېډ ګرې د استوګني په وخت کي حاضر و. ګرې لیکي چي "زما او مستر پاین د خوني څنګ ته زموږ دوو نورو ملګرو سټیوارټ او میډلیټن اړولي وه.. او زموږ زیاتره ناسته ولاړه له همدوی سره وه.." ګرې، چي په انګلستان کي تر واده کولو وروسته بیرته کابل ته ستون سو (مارچ ۱۸۹۲م) میډلټن او سټیوارټ دواړه له خدمته رخصت سوي او پر ځای یې دوه سکاټلېنډیان ټاکل سوي وو.[۴]

د سنایډر توپکو کارتوس د مستر اډوارډز په لارښوونه جوړېدل[۵] دی د انګلستان تبعه و. تر تاج التواریخ په هاخوا مي د ده په باب بل ځای څه نه دي لوستي.

---

(۱) د تاج التواریخ په انګرېزي چاپ کي دغه نوم په همدې شکل راغلی دئ. خو د میډلیټن په نامه یو بل انګریز انجنیر هم په دغه دوره کي په کابل کي کار کاوه چي د نامه انګرېزي لیکنه یې Myddleton وه. دی د کانو مهندس و او د جلال آباد د یاقوتو او د غوربند د سربو په معدنو کي یې کار کاوه. (وګورئ: سفرنامه...۳۷۸مخ دغه میډلیټن له مستر پاین سره په ۱۸۸۹م کال له انګلستانه کابل ته راغلی و.

(۲) سفر نامه و ....۳۴۴مخ.

(۳) حبیبي .د افغانستان تاریخي پېښلیک .۲۱۳مخ.

(۴) وګورئ: At the court of tha Amir ـ۳۳ـ۴۲۹ـ۴۵۹ مخونه.

(۵) سفرنامه....۳۴۵مخ. سټایډر توپکو ته یې په افغانستان کي "بغل پر" توپک ویل.

تارنټن Thoronton [1]

د انگریزي مستخدمینو په لړکي د څرمنو د کارخانې د کارکوونکو له جملې څخه د دغه شخص یادونه په افغاني او انگلیسي نشراتو کي راغلې ده. په پارسي او پښتو تاج التواریخ کي یې نوم د "تارتن" په بڼه راغلی دی. د علامه حبیبي په یاداښتوکي "نارنتن" لیکل سوی دئ چي غالباً به چاپي تېروتنه وي او د څرمنو د کارخانې جوړېدل یې د ۱۸۹۲م کال (۱۳۱۰ق) په پېښو کي راوړي دي.[2] د مسټر ټارنټن راتگ کابل ته هم په همدغه کال کي بللای سو ځکه په دغه کال مسټر پاین له انگلستانه دوه تنه انگریزي انجنیران له ځان سره راوستلي وو چي یو یې د باغ (Tanner) و.[3] زما په اټکل به دغه سړی غالباً زموږ د بحث ټارنټن و.

تارنټن د امیر عبدالرحمان خان لخوا د څرمني جوړولو د کارخانې لپاره استخدام سوی و. په د باغۍ (د څرمني پخولو صنعت) کي یې کارگران روزلي وو. مشهور شاگرد یې غلام حیدر نومېدی چي د کابل د دباغانو مشر و.

په دباغي صنعت کي امیر عبدالرحمان خان له ایرانه هم دوه تنه استخدام کړي وو او ده پخپله دغه فن په روسیه کي د خپلي استوگني یا تبعید په کلونو کي زده کړی و. امیر د یو بل انگرېز نوم هم یادوي چي د غوایي د څرمني جوړولو ماهر و او په شاگردانو کي یې "عظیم" بڼه پوره نوم ویوست. د دغه سړي نوم په تاج التواریخ کي " باسکر" بلل

---

[1] د Dictionary of National Biography په ۵۷۹ مخ کي د Edward Thoronton په نامه د یوه مهندس یادونه سته خو هغه بیا د تعمیراتو انجنیر ښوول سوی دی او وایي چي "د هندوستان په بېلابېلو برخو په تېره بیا کلکته کي یې ستري ماڼۍ او مهمي ودانۍ جوړي کړي دي."

[2] د افغانستان تاریخي پېښلیک. ۲۱۴مخ

[3] د باغ. څرمن پخوونکي یا څرمن رنگوونکي ته وایي. کسب ته یې د باغت ویل کېږي.

سوی دی چي زه یې د نامه پر سموالي شکمن یم.[۱]

کمیران Cameron

دا انګرېز انجینر د توپک جوړولو ماهرو، چي امیر عبدالرحمان خان د هندوستان په کارخانو کي ورسره پېژندلي وه او ورپسې یې په کابل کي د توپک جوړولو په کارخانه کي د مستخدم په توګه ټاکلی و. ده د هنري مارتیني توپکو د جوړولو کارخانه په کابل کي تاسیس کړه او دغه راز یې افغاني کار ګرانو ته دغه فن وروښوو.[۲] په دغه کارخانه کي د ورځي لس توپکه جوړېدلای سول. د مسټر کمیران له کاره امیر ډېر رضاییت ښوولی دی. دی پخپل کتاب تاج التواریخ کي لیکي "مسټر کمیران... د توپونو، ټوپکونو او نورو څیزونو د جوړولو لپاره تر ټولو پوه کارګرو، چي ما ګومارلی و. د هغه له کار څخه زما دولت ډېره ګټه واخیستله.. د جنګي وسایلو د جوړولو او ازمویلو په اړه یې ماته ځانګړي یادښتونه او مجلې راکړې، څرنګه چي مو دغه کتابونه له بهرنیو دوکانونو څخه نه شو ترلاسه کولای، نو دغه یادښت مي خپل سفیر کرنیل ولی احمدخان ته هندوستان ته ور ولېږه او هغه ته مي لارښوونه وکړه، چي دغه کتابونه د هندوستان له حکومت څخه تر لاسه کړي... له هغو څخه ځیني په فارسي ژباړل شوي دي.[۳] مسټر کمیران چي افغانستان ته د تلو په لاره کي پېښور ته رسېدلی و، سخت ناروغ سوی و ځکه نو څه موده هوري تم سو او تر روغېدلو وروسته کابل ته ولاړ.

(سراج التواریخ ـ جلد۳ ـ صفحه ۶۶۸)

---

[۱] سفرنامه.... ۳۵۱مخ.

[۲] سفرنامه.... ۳۴۵مخ.

[۳] پښتو تاج التواریخ ـ ۲۶۳مخ. [illegible] ولی احمدخان نوم په پښتو ژباړه کي ولی محمد خان راغلی دی. ما د علامه حبیبي د لیکنو له مخي ولی احمدخان وکیښ. کرنیل ولی احمد خان د خپل پلار جنرال امیراحمدخان تر مړیني وروسته په ۱۸۸۹م کال د هغه پر ځای په کلکته کي د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل سو. د ده پرځای بیا غلام رسول خان په ۱۸۹۱م کي مقرر سو. (و ګوری: د افغانستان تاریخي پېښلیک ـ ۲۱۱. ۲۱۳ مخونه).

مستر براون Mr. Brown

مستر براون د بریښنا انجنیر او د انګلستان تبعه و چي په ۱۸۹۳ میلادي (۱۳۱۰ق) کال کابل ته د امیر عبدالرحمان خان د مستخدم په توګه راغلی و. ده هغو کارو ته انکشاف ورکړ چي تر ده وړاندي د الکتریکي څراغونو او تیلفون په برخه کي د هندي او کابلي کارګرانو لخوا سرته رسېدلي و. [1]

مېرمن ډالي Mrs. Daly

دا مېرمن یوه انګلیسۍ ډاکټره وه، چي د امیرعبدالرحمان خان په امارت کي يې د بهرنۍ مستخدمي په توګه کار کاوه. دا د امیر د حرم د مېرمنو ډاکټره هم وه او دغه راز يې په کابل کي له استوګنو اروپایانو سره چي تقریباً ټول انګرېزان وو، د ناروغۍ په وخت کي د امیر په اجازه مرسته کوله. د دغي مېرمني په باب زما معلومات د فرانک مارتین پر لیکنو بنا دي. په نورو آثارو کي يې زه پر نامه نه یم پېښ سوی.[2] فرانک مارتین وايي، یو وخت پرده باندي د یوه افغان کارګر لخوا ناڅاپي برید وسو او د او سپني د یوې میلې وار يې پر وکړ. فرانک له مرګه بچ سو او په علاج کي يې دغي مېرمن ډالي ډېر زیار وکیښ.

مېرمن ډالي د امیرعبدالرحمان خان له ګراني ماندینې ملکې سلطانې (د شهزاده محمد عمر مور) سره دوستانه اړیکي درلودل. د امیر تر مړيني وروسته کله چي ملکه سلطانه د امیر حبیب الله خان پاچهۍ ته د احتمالي خطر د مخنیوي له امله د ارګ له حرمسرایه په زور و ایستل سوه او په ګلستان سرای کي خپلي ماڼۍ ته ولاړه، پر مېرمن ډالي باندي هم حکم وسو، چي له دې وروسته به له ملکې سلطانې سره نور اړیکي نه

---

[1] سفرنامه.... ۳۴۳مخ.

[2] و ګورئ: Under the abslute Amir. ۱۳۰، ۱۸۲، ۱۸۵ مخونه. د فرانک مارټین په باب دي د همدې لیکني نهه ویشتم مخ ته مراجعه وسي.

ساتي. امیرحبیب الله او د ده سکه ورور سردار نصرالله خان ډار پدل، چي ملکه سلطانه به د خپل زوی شهزاده محمدعمر د پاچا کولو په منظور د دغي اروپایي ډاکټري له نفوذ او موقعیت څخه کار واخلي او ښایي د دې په وسیله د هند له برتانوي مقاماتو سره مکاتبه وساتي، ځکه نو د دوی پر لیدنو کتنو باندي بندیز ولګېد.[۱]

دوکتورس للیاس همیلټن Miss. Hamilton

للیاس همیلټن د انګلستان تبعه او د امیر عبدالرحمان خان مخصوصه ډاکټره وه. تر دې وړاندي یې د کلکتې ښار په Lady Dufferin Hospital کي روغتیایي خدمات تر سره کول. په کابل کي یې د خدمت موده څو میاشتي ښوول سوې ده.[۲] دې په ۱۸۹۴م (۱۳۱۲ق) کال د کابل په ښار کي لومړنی عصري روغتون تاسیس کړ. په دغه وخت کي د افغانستان روغتیایي مؤسسې دوه رازه وې. یو شمېر یې د یوناني طبابت ځانګي وې، چي د دودیزو طبیبانو لخوا منځ ته راغلي وې او ځیني یې د عصري طبابت پر اصولو ولاړي لومړنی اداري وې، چي د هغه وخت په اصطلاح یې د "فرنګي طب" له مخي روغتیایي چاري پر مخ وهلې. په افغانستان کي د عصري طب لومړنی خښته ډاکټر دایم خان او ډاکټر عبدالرحیم خان په لاسو کېښېښوول سوه. دوی دواړه د امیرعبدالرحمان خان لخوا د ده د پاچهۍ په هماغه لومړیو کلونو کي استخدام سوي وو. خو د للیاس همیلټن هلي ځلي په دې برخه کي تر دوی بنیادي وې او لکه وړاندي چي و ویل سوه، د دې په لاس لومړنی عصري روغتون جوړ سو. دې انګلیسۍ ډاکټري له ځان سره یوه بله انګلېسۍ مېرمن د مرستیالي په توګه راوستې وه. د ډاکټر للیاس بل ستر کار دا و، چي دې د لومړي وار لپاره په کابل کي د کوي ناروغۍ واکسین رواج کړل او ماشومانو ته به یې د کوي د مخنیوي لپاره رګونه وهل. دغه واکسین یې

---

[۱] هماغه اثر. ۲۹۵مخ.

[۲] ستیفن ویلر. ۲۲۴مخ.

له سخوندرانو (خوسکیانو) څخه لاس ته ور وړل. په دې برخه کې یې ځیني شاګردان هم و روزل او دغه راز یې د امیرعبدالرحمان خان په امر یوه رساله هم ولیکله، چې تر ژباړلو وروسته په هیواد کې تکثیر سوه. ډاکټر للیاس همیلټن د امیر له زوی سردار نصرالله خان سره په هغه سفر کې د مخصوصي ډاکټري (حکیم باشي) په توګه ملګرې وه، چې د انګلستان حکومت په بلنه یې د خپل پلار پر ځای په ۱۸۹۴م کال هغه هیواد ته کړی و.[۱]

په ۱۸۹۴م کال، چې پر امیرباندي د نقرس ناروغۍ یوه سخته حمله راغله، للیاس همیلټن یې د معالجینو په ډله کې وه او ستیفن ویلر خو په دغه معالجه کې د دې رول دومره غټوي، چې وایي "د دې مهارت تر جالینوس و بقراط هم واوښت."[۲] دا ارګ ته څرمه په یوه کوچني کورکي یوازي اوسېدله. تر کور دباندې ګزمه پر ولاړه وه. دا د خپلې تنهایۍ او د امیر د ټینګ امنیت په باب لیکي "که څوک د امیر تر محافظت لاندي وي، دا پروا نلري چې ته یوازي یې، که یو څوک درسره دئ. په دواړو حالاتو کې به درته هرځای ځان محفوظ ښکاري."[۳]

ښاغلو لوستونکو ته به څرګنده وي. چې د تاج التواریخ انګریزي ترجمه The life of Abdur Rahman Amir of Afghanistan له هغي مسودې څخه ژباړل سوې، چې په کابل کې د امیر په لاس یا د ده تر نظر لاندي کښل سوې وه او Jhon Murray یې خپرونکی دی. جان مرې وایي چې د دغه کتاب د یوولسو فصلو مسوده همدغې ډاکټرللیاس همیلټن له ځان سره له کابله لندن ته یووړه او هورې د سلطان محمدخان په لاس ترجمه سوه. په دې توګه د ډاکټر للیاس همیلټن د دغه فرهنګي خدمت نتیجه وه. چې د افغانستان د تاریخ یوه ډېره مهمه برخه نړیوالو ته ور وپېژندل سوه

---

[۱] سفر نامه .... ـ ۳۷۷ ـ ۳۷۸ مخونه.

[۲] ستیفن ویلر ـ The Ameer Abdur Rahman. ۲۲۴ مخ. جالینوس او بقراط د لرغوني طب دوه مشهور طبیبان وو.

[۳] هماغه ځای ـ هماغه مخ.

تاج التواریخ یا د امیرعبدالرحمان خان د اټوبیوګرافۍ په باب د سټیفن ویلر Stephen Wheeler خبري هم په زړه پوري دي. دی وایي " څه موده وړاندي (دا خبري دی په ۱۸۹۵م کي کوي، هوتک) داسي ویل کېده، چي امیر د خپلي اټوبیوګرافۍ په لیکلو لګیا دی... د دغي اټوبیوګرافۍ یوه برخه یا ښایي یوه بله اټوبیوګرافي د امیر په لاس د روسي ترکستان ګورنر جنرال ته هغه وخت ورکول سوې وه، چي امیر هورې د تبعید شپې تېرولې. دغه برخه په روسي ژباړل سوې وه، چي وروسته بیا د هند په استخباراتي څانګه کي د ډګروال ګوان Colonel Gowen لخوا په انګلیسي و ژباړل سوه."[1] سټېفن ویلر وروسته زیاتوي، چي دغه اټوبیوګرافي په اسانه نه سي موندل کېدلای، ځکه نو ده د خپل کتاب په پای کي ټوله راوړې ده او د ده د کتاب دوولس مخه یې نیولي دي.[2]

---

[1] هماغه اثر ۲۳۵مخ.

[2] ما (هوتک) د آیینهٔ افغانستان مجلې د ۱۹۹۴ کال د اګست د لومړۍ نېټې په ګڼه کي د "تاج التواریخ ترجمه ده که اصل؟"

تر عنوان لاندي یوه لنډه لیکنه کړې وه. په هغه وخت کي ما د سټیفن ویلر پورتنۍ یادونه نه وه لوستې. ځکه مي نو د امیر عبدالرحمان د اټوبیوګرافۍ د روسي ژباړې یادونه نه وه کړې. بله د سمېدلو خبره، دا ده، چي هورې ما " د بدبه امیری" د تاج التواریخ د اردو ژباړې دوهم چاپ بللی و. "د بدبه امیري" د محمد حسن بلګرامي خپله څېړنه معلومېږي.

له مرضوع سره د ارتباط له مخي به د تاج التواریخ او د هغه د فارسي ژباړونکي غلام مرتضیٰ خان قندهاري په باب د سراج التواریخ د مولف فیض محمد کاتب هزاره د لیکني لنډیز هم رانقل کړو. فیض محمد کاتب لیکي چي سلطان محمد خان هندي څه موده د امیرعبدالرحمان خان د حضور د منشي په توګه کار وکړ. د کابل له خلکو سره یې خپښني وکړه او یوه کابلۍ ښځه یې په نکاح کړه. وروسته د امیر له اجازې پرته له کابله و تښتېد او هند ته ستون سو. فیض محمد د ده د بیرته ستنېدو علت نه بیانوي خو د ده په باب د(الخائن خالف) اصطلاح کاروي او له دې اصطلاح څخه ښکاري چي د امیر په نظر یې کوم وراني یا خیانت کړی و. په هرصورت، فیض محمد کاتب زیاتوي چي منشي سلطان محمد د امیر عبدالرحمان خان(پندنامه دنیا و دین) کتاب له فارسي څخه په انګلیسي ژبه و ژباړه او د افغانستان په باب یې له خلکو څخه نور اورېدلي مطالب ور سره یو ځای او په دوو ټوکو کي یې د(تاج التواریخ) په نامه خپاره کړل او له دې بابته یې ښې ډېري پیسي تر لاسه ←

مسټر کليمينس[1] Mr. Clemence

دغه انګرېز د څارويو ډاکټر (بيطار) او د اميرعبدالرحمٰن خان لخوا کابل ته غوښتل سوی و. د دغه بيطار يادونه په تاج التواريخ کي سوې ده او جان الفريډ ګرې يې هم پخپل کتاب کي نوم اخلي. ده د ناروغو اسانو د تداوۍ چاري پر مخ وهلې او د حيواناتو د نسلګيرۍ کار يې هم کاوه. په دې برخه کي يې شل تنه افغاني ځوانان روزلي وو. دی چي کله له انګلستانه کابل ته راتلی، له ځان سره يې شل دانې انګلېسۍ مېږې راوړې وې. جان الفريډ ګرې وايي، چي کليمينس له انګلستانه دوه درې اسان او يو څو يابو ګان هم راوستل، چي په کابل کي نسلګيري ځني وسي. امير دی فيض آباد ته ولېږه او هورې يې خپل مرکزونه جوړ کړل.[2] افغانستان ته د کليمينس د راتګ دقيقه نېټه ما ته څرګنده نه سوه، خو ګرې ليکي چي په ۱۸۹۲م کال له مسټر پاين سره دوه تنه انګرېزان کابل ته راغلل. يو يې د باغ او بل يې د يورکشاير Yorkshire د اسانو روزونکی و.[3] زه (هوتک) يقين ته په نږدې ګومان فکر کوم، چي دغه سړی به زموږ د بحث وړ کليمينس و. د کليمينس تر راتګ تقريباً او يا کاله وړاندي د ويليام مور کرافټ په نامه يو بل انګريز جراح او آس پېژندونکی هم د ايسټ انډيا شرکت لخوا له کشميره کابل ته راغلی و. ده بلخ او ميمنې ته

کړې. دغه انګرېزي متن غلام مرتضیٰ خان قندهاري په مشهد کي له سره بيا ترجمه او خپور کړ. فيض محمد کاتب وايي چي ده د سراج التواريخ په کښلو کي د (پند نامه دنيا و دين) د کابل له چاپ نسخه استفاده کړې ده ځکه چي دا چاپ د امير خپله ليکنه وه خو د تاج التواريخ له دوهم ټوک نسخه يې ځکه استفاده و نه کړه، چي د مطالبو پر سموالي يې باور نه درلود. (سراج التواريخ ۳ جلد ۵۱۶-۵۱۷ مخونه).

[1] دغه نوم په سفرنامه... او پښتو تاج التواريخ کي "کلمنتيس" ثبت سوی، چي زما په خيال سم نه دی. د (کليمينس) په شکل ليکنه يې ماد ډاکټر ګرې له کتابه واخيستله. (هوتک)

[2] اپ د کورټ آف د امير. ۴۷۲، ۴۷۱ مخونه.

[3] هماغه اثر. ۴۷۶مخ.

سفرونه وکړل او په اندخوی کي مړسو. ده یوه سفرنامه کښلې وه، چي تر مړیني یې شپږ کاله وروسته له لندن څخه د ویلسن په لاس چاپ او خپره سوه.(۱) له امکانه لیري نه ده، چي ویلیام به سیاسي ماموریت درلود. تر ده دوولس کاله وروسته د انګلستان یو بل سیاسي مامور (پاټینجر) د اسانو د سوداګر په جامه کي کابل ته راغی، بیا د ملایانو په لباس کي هرات ته ولاړ او د هرات د محاصرې په وخت کي یې سیاسي فعالیت کاوه.(۲)

د مسټر کلیمینس مېرمن هم د ۱۸۹۴م کال په اپریل کي له خپل دوه کلن ماشوم او یوې نرسي سره کابل ته ورسېده. امیر عبدالرحمان خان ورته یوه بګۍ او څلور ساتونکي ورکړل. ستیفن ویلر د دې له خولې لیکي، چي مېرمن کلیمینس یوه ورځ د ماپښین لخوا له خپل مېړه سره تر ښار دباندي د چکر لپاره و وتله. تر شا یې یو ساتونکی پر آس باندي بدرګه ورسره روان و. شپه راغله او دوی و ساتونکی سره ورک سول. دوی په یکړ سر په بازار کي وګرزېدل او د شپې پر لسو بجو کورته و رسېدل خو د بې محافظه ګښت له بابته هیڅ راز اندېښنه ورسره نه وه. ځکه هر ځای. چي به له خلکو سره مخامخ کېدل "سلام او مانده نباشی" یې ور ته ویله. مېرمن کلیمینس لیکي، چي د امیر ګرانه ماندینه "ملکه" ډېره جذابه او ښکلې ښځه وه او که د یوه ختیځ وال په ژبه معرفي سي، نو ښکلا یې تر لمر زیاته ځلېده او قد ته یې سروه شرمېدله. دا زیاتوي، امیر صاحب د دې د کوچني ماشوم په لیدلو ډېر خوښ سو، چي په خونه کي به یې دې خوا ها خوا ته ځغستل او هرڅه چي به په مخه ورتلل، لوبي به یې په کولې.(۳)

---

(۱) د افغانستان تاریخي پېښلیک. ۱۸۰مخ.
(۲) هماغه اثر. ۸۳مخ.
(۳) ستیفن ویلر. The Ameer Abdur Rahman. ۲۲۵مخ.

والټر[1] Walter

والټر هم د انګلستان تبعه و او د امير لخوا د ګنډونکي په توګه استخدام سوی و. تر دغه وخت وړاندي د کابل د ملکي او پوځي جامو د ګنډلو کار د هندي ګنډونکو لخوا سرته رسېدلی. امير د دوی له کاره ناخوښه ؤ، ځکه يې دغه انګرېز ګنډونکی (همدغه والټر) استخدام کړ. ده د جامو رغولو په برخه کي ټولي نيمګړتياوي سمي کړې او د ميرمنشي سلطان محمدخان په مرسته يې په دې باب يوه رساله وکښه، چي په هغې کي د ګنډلو ټول هغه قواعد بيان سوي وو، چي په انګلستان کي رواج وو.[2] د والټر مېرمن هم د څه مودې لپاره د مسټر کليمينس له مېرمني سره يو ځای کابل ته په تفريح تللې وه.[3]

د والټر په باب يوه لنډه يادونه د جان الفريډ ګرې په کتاب کي هم سته. دی ليکي، چي د والټر په نامه يو انګرېز ګنډونکی له مسټر پاين سره کابل ته راغی او زياتوي، چي والټر يو وخت له ده سره پغمان ته ولاړ او هورې يې غوښتل د کوچني شهزاده محمد عمر لپاره کرتی روغه کړي.[4]

مسټر ريچيز Mr. Riches

په دغه نامه د يوه انګرېز مستخدم يادونه د تاج التواريخ په انګليسي متن (۷۶مخ) کي سته او امير وايي، چي د پيانو رغول يې له دغه سړي څخه زده کړي او بيا يې ځينو نورو افغانانو ته هم ور ښوولي دي. په سفرنامه او پښتو تاج التواريخ کي د دغه سړي نوم "مسټر پرخر؟" راغلی دی.[5] مايې د انګليسي متن ثبت غوره وباله او راتقل مي کړ. بل ځای مي د ده په باب څه نه دي موندلي.

---

[1] د ده نوم په سفرنامه.. او پښتو تاج التواريخ کي "دالتر" دی، چي د والټر ناسمه لوستنه ده او د "والتر" په نامه کي د "واو" توري له مغشوشي ليکني څخه پيښه سوې ده.

[2] سفرنامه.... ۳۵۴مخ.

[3] ستيفن ويلر. The Ameer Abdur Rahman ۲۲۵مخ.

[4] اټ د کورټ آف د امير. ۴۴۱، ۴۷۶مخونه.

[5] سفرنامه....۳۸۲مخ، پښتو تاج التواريخ.۲۹۴ مخ .

فلیشر Fleicher

فلیشر د المان تبعه او د امیر عبدالرحمان خان لخوا د توپک جوړولو د صنعت ښوولو په منظور استخدام سوی و. د ده یادونه د فرانک مارتین انګریز او جیویټ امریکایي په یاداښتو کي موندلای سو. فرانک. اې. مارتین پخپل کتاب Under The Absolute Amir کي د دغه جرمني انجنیر یادونه داسي کوي "مسټر فلیشر به، چي په کابل کي زما د استوګني په ورستیو کلونو کي اوسېدی، د جمعې په ورځو زما سره ملګری کېدلی او په چمنانو کي به مو ټوله ورځ تېروله.. نوموړی د ۱۹۰۴ کال په نومبر کي هندوستان ته د تلو په لار کي د خپل افغان بدرګه افسر لخوا و وژل سو"[1] وایي چي تر دغي پېښي وروسته به له بهرنیانو سره هرومرو یو (مهماندار) ګومارل کېدی[2].

د دغه جرمني انجنیر مېرمني د خپلو ماشومانو د روزني لپاره یوه جرمنۍ نرسه افغانستان ته رابللې وه. دې نرسي د امیر له ګراني ماینې سره مناسبات ټینګ کړل او د امیر حرم ته یې پناه ورووړه. دې غوښتل، چي مسلمانه سي. مېرمن فلیشر پر امیر زور واچاوه، چي دغه ښځه دي بیرته د دې کورته ولېږل سي. امیر د ښځي له بیرته ستنېدلو سره موافقه و نه کړه. دې ښځي د امیر په موافقه له یوه نورستاني افسر سره واده وکړ. امیر د دغه افسر تنخواه ور زیاته کړه او یو کور یې د استوګني لپاره ورکړ.[3]

مسټر فلیشر یو له هغو شپږو اروپایانو څخه و، چي د امیر عبدالرحمان خان د مړیني پر وخت (۱۹۰۱م)په کابل کي اوسېدل. نور پنځه یې د ده مېرمن، زوی او نرسه، فرانک مارتین او مېرمن ډالې وه.

---

[1] فرانک مارتین. Under The Absolute Amir. ۱۷۵مخ. ۱۹۰۷م.

[2] جیویټ An American Engineer in Afghanistan. ۸مخ.

[3] فرانک مارتین. ۱۸۵مخ.

دوهمه برخه

د امیرحبیب الله خان (سراج الملة والدین) دوره[1]

۱۹۰۱-۱۹۱۹م

اې - سي - جیوټ A.C.jewett

دا سړی د کلیفورنیا اوسېدونکی امریکایي انجنیر و، چې د سراج الملة والدین امیرحبیب الله خان (۱۹۰۱- ۱۹۱۹م) لخوا په جبل السراج کې د برېښنا د یوې د ستگاه د جوړولو لپاره استخدام سوی و. نوموړی له ۱۹۱۱م څخه تر ۱۹۱۹پورې په افغانستان کې و. له امیر او د هغه له و زیرانو سره ډېر محشور و او له نزدې یې ور سره پېژندل. په افغانستان کې یې د خدمت په وخت کې فارسي ژبه زده کړې وه. دی لومړی امریکایي تبعه و، چې له ۱۸۷۸م څخه وروسته یې په افغانستان کې د استوگنې اجازه موندلې وه.

جیویټ د برېښنا مهندس و. د پاسیفیک په ساحل کې د سانفرانسیسکو د ښار لومړی اور گاډی(ترامواې) او په کلیفورنیا کې لومړی برقي ټرانزمیشن او دغه راز نوري دستگاوې د ده په لاس جوړې سوې وې. دی د جنرال الکټریک کمپنۍ لخوا د هندوستان جنوب ته ولېږل سو او په میسوري کې د برېښنا یوه دستگاه جوړه کړه. دغه راز یې د هندوستان په شمال کې سرینگر ته نزدې ور ته دستگاوې و درولې. د جیلم د برېښنا دستگاه هم د ده په لاس فعاله سوه. دی په ۱۹۱۰م کال له هنده

---

[1] د دغې دورې د بهرنیو مستخدمینو په باب معلومات له هغه کتابه راغونډ سوي دي، چې An American Engineer in Afghanistan نومېږي او لیکونکي یې اې - سې - جیوټ دئ.

امریکا ته ستون او سمدلاسه د یوه برتانوي شرکت لخوا افغانستان ته د کار لپاره و ټاکل سو. په لومړي سر کي داسي فکر کېدی، چي د ده د ماموریت دوره به یو کال لا دوه وي. خو ده هوري اته کاله تېر کړل. ده د جبل السراج پروژه په داسي شرایطو کي بشپړه کړه، چي د اړتیا وړ مواد ور ته له هندوستانه د پیلانو په ګاډیو کي راتلل، د امیر احکام به په میاشتو میاشتو ځنډېدل او پرځنګ یې کارګران هم ټول غیر مسلکي کسان وو او زړه نا زړه یې کار کاوه. جیویټ ته له اتو کالو کار وروسته خپل هیواد ته د تللو اجازه د امیر لخوا ور کړه سوه او کلیفورنیا ته ستون سو. په Papeete کي یې ځانته کور جوړ کړ. په دغه کور کي یې هندوستانۍ نقاشۍ، پېښوري ټوکران، افغاني چړې او توپک، د کابل یاد ګاري ټوکران او جامې ځانته ځوړندي کړي او د هغو په ننداره یې خپلي تېري خاطرې ژوندۍ کولې. دی د ۱۹۲۶م کال د فبرورۍ پر دریمه د پنځه پنځوسو کالو په عمر په ناڅاپي توګه د Sunstroke له امله مړ سو.

جیویټ له افغانستانه زیاتره لیکونه خپلي ورېرې Marjorie Jewett Bell ته لېږل او په هغو کي یې د خپل ژوند او مسلکي کارو او دغه راز د افغانستان د کلیو، ښارو، کلچر او وګړو په باب بیانونه ور ته کښل. دغه لیکونه او نور یاداښتونه و عکسونه د ده تر مړیني وروسته د نوموړې مارجوري لخوا له سره تنظیم او تر تیب سول او د An Amarican Engineer in Afghanistan په نامه د یو کتاب په شکل په ۳۳۵ مخونه کي له څلور مخه سریزې، فهرست او Glossary سره په ۱۹۴۸م کال په لندن کي چاپ سول. افغانستان ته د جیویټ سفر د ۱۹۱۱ کال د می پر شپږویشتمه د جمعې په ورځ پیل سو. په دغه ورځ یې له پېښوره مخ پر کابل حرکت و کړ او له اوو کالو اوو میاشتو وروسته د ۱۹۱۸م کال د دسمبر پر ۲۱ له کابله رخصت سو.(۱) د ده د سفر ټول و سایل په پېښور کي د افغاني استازي غلام حیدرخان

---

(۱) جیویټ ـ ان امیریکن انجنیر این افغانستان ـ ۳۲۶ مخ.



د جبل السراج د برېښنا فابرېکې سامان پر پیلانو باندې
له پېښوره راليږدېدل.

لخوا برابر سوي وو.[۱] د جبل سراج د برېښنا دستګاه د کابل ښار ماشین خانو ته د انرژۍ برابرولو او د دولتي او شاهي ماڼیو د روښانولو په مقصد تاسیس سوې وه. د دغي دستګاه تر جوړېدو وړاندي د کابل ماشینخانې د لرګیو د سوځلو له لاري په تولید سوي. بخار چلېدلې او دسونګ موادو لګښت یې په کال کي یو لکو پنځوس زرو ډالرو ته رسېدی.[۲] دغه دستګاه پر امیرحبیب الله خان باندي د بمبیي د ښار د برېښنا یو شرکت خرڅه کړې وه. د دستګاه د لېږدولو او ساختماني چارو لګښت یې امیر پر خپله غاړه اخیستی و. د دستګاه ظرفیت ۱۵۰۰ کیلوواټه و. د جوړېدلو لپاره یې ۵۱۶ تنه کارګران ،دوه ویشت افسران (یو قوماندان ،

---

(۱) غلام حیدر خان په پېښور کي د پوسټ ماسټر دنده درلوده. جیویټ یې د رشوت خور سړي په توګه نوم اخلي. د ده د کتاب ایډېټره مېرمن مارجوري د کتاب په ۱۹۵مخ کي لیکي(... په پېښور کي د افغاني پوسټ ماسټر په توګه د غلام حیدر ماموریت د ۱۹۱۹م کال د مي پر اوومه پای ته ورسېدی. د هند برتانوي حکومت ته څرګنده سوه چي نوموړي له خپل دفتر څخه د تبلیغاتي مرکز په توګه کار اخیست او په پام کي یې وه چي په پېښور کي داخلي پاڅون جوړ کړي او د هغه له لاري افغاني لښکرو ته لار اواره کړي چي دغه ستراتژیکي ښار ونیسي. انګرېزانو غلام حیدر او د هغه ملګري بندیان کړل.) له دې بیانه ښکاري چي غلام حیدر د انګرېزي ضدکمپاین یو غړی و. زما د دې ګومان ملاتړ په(افغانستان درمسیر تاریخ...۷۴۶، ۷۴۹مخونو کي) موندلای سو. ارواښاد غبار د بیان له مخي د ناظر محمد صفرخان د زوی محمد اخترخان په مشرۍ د شاه امان الله د ترور په نیامت یوه ډله جوړه سوه چي په غړو کي یې(غلام حیدر سرحدی) هم و. دغه سړی داسي نخښه ویشتونکی و، چي له ۴۰ مترو فاصلې څخه یې اګۍ په ګولۍ ویشتلای سوای. د دوی په فکر شاه امان الله د ظلم لار غوره کړې وه. د دغه غلام حیدرخان په ګډون څو تنو شاه ته د پغمان په لار کي څو(کمین) ونیو، خو بریالي نه سول او په نتیجه کي دنایب السلطنه په نسبت د یوې غلط فهمۍ له امله د غلام حیدرخان په شمول ډېر زیات انګرېزي ضد کسان اعدام یا بندیان سول.

(۲) جیویټ ـ ۲۲مخ

شپږ کپتانان، پنځلس صوبه داران، دوه مېجران، دوه سرجنان، دوولس کوټ حوالداران، اته حوالداران، شپږ بنایان، شپږ پُښان او پنځه ترکاڼان) ګمارلي وو. د ترانسپورټ لپاره یې دوه پیلان، یوسلو پنځه ویشت اوښان او یو زیات شمېر یابو ګان ور کړي وو. ماشین آلات یې د پیلانو په ګاډیو کي په څه د پاسه پنځو کالو کي له هندوستانه رانقل سول.

د دستګاه کار د۱۹۱۲م کال د جولای پر دیارلسمه پیل سو[(۱)] او پسله شپږنیمو کالو (د ۱۹۱۸ کال د فبرورۍ په سر کي ـ دلو (۱۲۶۹ ق) دومره اندازې ته ورسېد، چي د جیویټ او بېکر په واسطه د برېښنا یو څراغ روښانه سو او خلک ورته په تماشه راغلل[(۲)] جیویټ د امیرحبیب الله خان په باب د یوه یادانبت په ترڅ کي چي د ۱۹۱۹م کال د فبرورۍ پر څلیرویشتمه یې په کلیفورنیا کي هغه وخت کښلی و، چي د امیر د وژلو پېښه یې په ورځپاڼو کي لوستې وه، داسي لیکي:

(امیرحبیب الله خان، چي مالیدلی و، یو ډېر روشنفکر او ډېر مستعد افغان و. دی د پیاوړي شخصیت څښتن و او په زیاته اندازه عمومي معلومات یې درلودل. ډېره قوي حافظه یې وه. ده په داسي وخت کي پاچهي کوله، چي د دسیسو او دغلبازۍ مطلقه فضاحاکمه وه. په کابل کي استوګن اروپایان او دغه راز افغانان سره له دې چي دی د خپلو

---

(۱) د افغانستان تاریخي پېښلیک ـ ۲۲۲ مخ او افغانستان در مسیر تاریخ ـ ۷۰۵ مخ کي چي د جبل السراج د اوبو د برېښنا کارخاني د کار پیل د ۱۹۰۷م کال په پېښو کي راغلی دئ، ماته د تامل وړ ایسي. دغه راز په(پېښلیک)کي د دغي کار خانې پرانستل د ۱۹۱۴م کال په جنوري کي بلل سوي دي، چي دا خبره هم د جیویټ له څرګندونو سره سر نه خوري. له استادرفیع صاحب څخه مي اورېدلي دي، چي علامه حبیبي مرحوم د دغه کتاب (پېښلیک) له ناسم چاپېدلو څخه ډېر ناراض و.

(۲) جیویټ ـ ۳۰۹ مخ.

اروانښاد غبار د جیویټ نوم اخلي خو نه ښیي، چي د کوم هیواد تبعه و. دی لیکي(واما فابریکه برق آبی جبل السراج... زیر نظریک انجنیر خارجی بنام جوت کار تاسیس(آن) آغاز گردید. ولی این فابریکه۱۲سال بعد(۱۹۱۹) توانست که توسط یک انجنیر هندی بنام عزیزالله خان کابل را تنویر نماید)(افغانستان در مسیر تاریخ ـ ۷۰۵مخ)

٥٨٩١



امريكايي انجنير A.C. Jewett چي د ده د كار په باب بشپړ
بيان د همدې كتاب په دوهمه برخه كي راغلى دئ

۵۸۹۲



اې. سي. جيويټ په افغاني جامه کې

لغزشونو له امله غندي، خو پر دې خبره یوه خوله دي، چې دی د واکمنۍ لپاره په ټوله معنا بهترین سړی و.)[1] جیویټ د ۱۹۱۴م کال د ډسمبر پر پنځلسمه (۲۶ محرم ۱۳۳۳هـ ق) د امیرحبیب الله خان لخوا د یوه فرمان په ترڅ کې خپل هیواد ته د رخصتۍ تېرولو اجازه ترلاسه کړه. امیر ور ته څلور میاشتې رخصتي ورکړه. د پنځو میاشتو تنخواه یې پیشکي ور حواله کړه او زر پونډه یې نور هم نغدي ورکړې. دغه راز یې د خان لپاره د ځینو سامانونو د پېرودلو یو اوږد لیست هم ورکړ چې په هغه کې تفنګچې، د ګولیو توپک، باروت (Pistols for the gentry) د اشپزۍ سامانونه، د سیګار لایټرونه(Flatirons) او نور د کور سامانونه. د ګنډلو برقي ماشینونه،د مېز څراغونه، (البته ټول برقي سامانونه د کابل بریښنا له ولټېج او جریان سره سم)، د مېوو د جوس ایستلو ماشینونه او د بادام، چارمغز او نورو د تېلو ایستلو ماشینونه، د ادویه جاتو د میده کولو سامانونه، د ژړو او کاغذي کارتوسو ډکولو ماشین، د سپرلۍ زین او قیضې (ملونه)، د کمپاین فرنېچر، د خاورو د تېلو بخارۍ، د موټر ټول او دوربینونه. د دې سامانونو لپاره یو زر (Sovereigns) ورکړې وه او دغه راز څلور زره نوري اضافي روپۍ هم ورکړي وې چې په هغو باندې جیویټ پخپله خوښه نوي اختراع سوي سامانونه ور رانیسي.جیویټ وایي چې دا ټول سامانونه یې د ورکړه سویو پیسو په نیمایي ور رانیول او امیر د ده له خریدارۍ څخه ډېر خوښ و. (د جیویټ مقاله Asia مجله د ۱۹۲۰ع کال د جون ګڼه) دا مجله د امریکا په متحده ایالاتو کې خپرېدله او بشپړ نوم یې – Aisa (The American Magazine on the Orient) و.

---

[1] جیویټ ـ ۳۲۷، ۳۲۸ مخونه.

بېکر Baker

دا سړی د انګلستان تبعه او د امریکایي انجنیر اې. سي. جیویټ مرستیال انجنیر و. ده اوسټ (Sut) دواړو د جیویټ تر لاس لاندي د جبل السراج د بریښنا په پروژه کي کار کاوه.[۱] کله چي په ۱۹۱۶م کي جیویټ له افغانستانه په رخصتي تلی، له امیرحبیب الله خان څخه یې وغوښتل، چي بېکر د ده پر ځای د پروژې مشر وټاکي، معاش و کارګران یې هم ورزیات کړي. امیر ور سره و منل اوله بېکر سره یې د پنځو کالو لپاره قرار داد وکړ. بېکر دوه کاله په همدې پروژه کي کار وکړ[۲]. په ۱۹۱۸م کي په کابل کي د انفلوانزا ناروغي راغله او بېکر په جبل السراج کي ناروغ سو. امیر له کابله د جراح مرستیال سلطان محمد ور ولېږه. نوموړي د بېکر ناروغي انفلو انزا وګڼله او تد اوي یې ور شروع کړه. امیر د تاکید لپاره ډاکټر غلام محمد هم ور ولېږه.[۳] ده د بېکر ناروغي لویې تبه(محرقه) تشخیص کړه او د محرکې تداوي یې پیل کړه. د دواړو ډاکټرانو تداوي نتیجه ور نه کړه او بېکر د ناروغۍ په شپاړسمه ورځ مړ سو. امیر یې مړی پر تخت روان باندي پېښور ته ولېږه او هورې د پرنګیانو په هدیره کي ښخ سو.[۴]

د همدغه بېکر یو اخښی هم په کابل کي د امیر په مستخد مینو کي و، چي برنهم Burnham نومېدی او جیویټ یې د خپل کتاب په ۳۲۴ مخ کي نوم اخلي. د برنهم په باب مي نور څه نه دي اورېدلي.

---

(۱) جیویټ ـ ۲۸۶ مخ.

(۲) هماغه اثر ـ ۲۹۶ مخ.

(۳) د دغو دوو ډاکټرانو په باب مي معلومات و نه موندل.

(۴) جیویټ ـ ۳۲۰، ۳۲۲ مخونه.

مسټر سمیت Mr. Smith

مسټر سمیت هم د اې. سي. جیویټ امریکایي تر لاس لاندي د جبل السراج په پروژه کي د مرستیال انجنیر په توګه کار کاوه. اصلاً انګرېز و. د ده په باب نور معلومات لاس ته رانغلل خو د ده او شهزاده عنایت الله خان(معین السلطنه) تر منځ په ۱۹۱۴م کال یوه شخړه پېښه سوې وه، چي په راوړلو ارزي او زه به يې د هغه فرمان له مخي بیان کړم، چي د شهزاده عنایت الله خان لخوا د جیویټ امریکایي انجنیر په نامه د همدې موضوع په ارتباط د ۱۳۳۳ق کال د روژې پر څلورمه صادر سوی و. پېښه داسي وه، چي سمیت ته يې په اندرابي کي د یوه حکومتي کور په لومړي پوړ کي د استوګني لپاره ځای ور کړی و. په لوړ پوړ کي د حبیبیې مدرسې دوه تنه استادان اوسېدل. سمیت له د غو دوو تنو استادانو سره په یوه کور کي خوښ نه و ځکه نو ده او مېرمني ته يې د مهمانخانې په (کوټي باغ) کوچنۍ خوني و ټاکلې او د خارجه دفتر د کارکوونکو لخوا ور وښوول سوې. دا خوني د سمیت پر طبعه برابري نه وې. وروسته امر وسو، چي د(کوټۍ نقاشي) پر مخامخ دي دوې ښې کوټې ور کړه سي. دا ځای هم د سمیت خوښ نه سو او ويې غوښتل، چي بیرته دي د اندرابۍ کور ور کړه سي. د پنجشنبې په یوه شپه یو استاد د سرای غولي ته د اودس لپاره راوتلی و. سمیت بړغ پر وکړ، چي څوک يې؟ د استاد لخوا د ځان له ښوولو سره سره سمیت ورباندي د سوټي واری وکړ او استاد يې بېهوښه کړ. تر واري د مخه يې استاد ته سپکي سپوري هم ویلي وې. استاد او سمیت دواړه شهزاده عنایت الله ته عارض سول. تر تحقیق وروسته شهزاده د استاد سیله وکړه او سمیت ته يې د قانون ماتولو له امله سزا ورکړه او په یوه فرمان کي يې جیویټ ته ولیکل(څرنګه چي ته د مسټر سمیت آمر يې، باید د ده په هغه سلوک، چي د قوانینو پر ضد يې سرته رسولی او په هغه جزا، چي زموږ

لخوا ور کړه سوې ده، خبر سې. ده ته باید خبر ور کړې، چي که په راتلونکي کي د ده یا د کوم بل چا لخوا د قانون پر ضد جزوي ترین اقدام وسي، سخته جزا به وومومي)[۱]

د حبیبیې مدرسې دغه استاد مولانا محمد علي قصوري نومیدی، چي د هند تبعه او د امیر حبیب الله خان لخوا کابل ته د نومړې مدرسې د چارو د سمبالولو لپاره را بلل سوی و. دی په ۱۹۱۵ع کي د مدرسې د مدیر په توګه وټاکل سو. ده خپل خاطرات د " مشاهدات کابل و یاغستان" په نامه په یو کتاب کي خپاره کړي دي. دا کتاب تر دې ګړیه ما نه دی کتلی څو ښاغلي عبدالمالک همت یې څو پاڼي ژباړلي او د "میوند" مجلې د دوهم کال څلرمي ګڼې په ۱۵ مخ کې چاپ کړي دي. مولانا هورې بې له دې چي، د سمت نوم واخلي د خپلو وهلو ټکولو بیان کړی دئ.

وایي محمد علي قصوري په کابل کي له اوسېدونکو انګریزي مستخدمینو سره جوړ نه و او تل به یې شهزاده عنایت الله خان ته د هغوی په باب شکایتونه کول. دی پخپلو خاطراتو کي یو ځای لیکي چي په حبیبیه مدرسه کي د دوو خونو د زیاتېدو د لګښت لپاره ده درې زره روپۍ اټکل کړي وې او د هغه وخت د انګرېزي سر انجنیر لخوا اووه اتیازره روپۍ اټکل سوي وې. شهزاده مولاناقصوري ته د خونو د جوړولو کار وسپاره او هغه په دوه زره و درې سوه روپۍ باندي جوړي کړې. دې کار د ده او په کابل کي د اوسېدونکو انګریزي مستخدمینو ترمنځ مناسبات خړ پړ کړل مولانا محمد علي قصوري د هند د آزادۍ غوښتونکو له ډلي څخه و او له مولانا ابوالکلام آزاد، حکیم اجمل خان، مولانا عبیدالله سندهي او نوره مشرانو سره نژدې همکار و.

---

[۱] جیویټ ـ ۲۶۱ مخ.

سټ Sut

د اې. سي جيويټ امريکايي انجنير مرستيال او په خټه انګرېز و. جيويټ يې افغانستان ته د راتلو يادونه کوي او وايي، چي (ده راته هغه وخت له هنده تيلګرام وکړ، چي زه له هندوستانه مخ پر افغانستان روانېدلم)[(۱)] نوموړی د ۱۹۱۵م د اګسټ په سر کي جبل السراج ته د خپلي دندې لپاره ورسېدی او جيويټ د ده په ورتګ خوښ او ليکلي يې و(دی که څه هم يو خواګرزن سړی او کوښتوب يې بيا بل سرباری و، خو دلته څوک هر راز استعداد ته اړتيا لري.[(۲)] جيويټ له جبل السراج څخه د يوه ليک په ترڅ کي، چي د ۱۹۱۸کال د نومبر پر درويشتمه يې کښلی دئ، پېښنور ته د بېکرد تابوت د انتقالولو جريان کاږي او په دې لړ کي د څو نورو بهرنيو مستخدمينو نومونه اخلي، چي د تابوت د لېږدولو لپاره له کابله جبل السراج ته په موټر کي رسېدلي وو. په هغوی کي د يوه نوم سټکليف Sutcliffe دئ، چي غالبا به زموږ د بحث همدا سټ Sut وي. د نورو نومونه اورام Oram او مک لافلين Mclaughlin دي. د سورډ Sword په نامه د يو بل چا نوم هم په دغه ډله کي سته. دی له کابله پر موټرسايکل باندي جبل السراج ته د بيکر د پوښتني لپاره ورغلی و.[(۳)] دا به ښايي په کابل کي لومړنی موټر سايکل وي، چي وارد سوی و.)

مسټر هاليډې Mr. Halliday

دی د کلکتې ښار د پولادو د يوې کمپنۍ استازی و، چي د امير لپاره يې د پلونو، ماڼيو او کار خانو ټول پولاد برابرول[(۴)] د ده په انجنيرۍ د کابل پر سيند باندي د جلال آباد او لغمان پر لاره د درونټې په سيمه

---

(۱) جيويټ - ۲۵۶ مخ.

(۲) هماغه اثر - ۲۶۱ مخ.

(۳) هماغه اثر - ۳۲۳ مخ.

(۴) جيويټ - ۲۵مخ حاشيه.

کي د اوسپني یو اوږد پل، چي اوږدوالی یې ۳۰۶ فوټه و، د ۱۳۳۰ ق کال د صفري په میاشت(۱۹۱۱م) کي جوړ سو. د نوموړي هالیډې په مهندسی په ګلبهار کي د نیلاب پل هم جوړ سوی دئ [1]. دغه پل د ۱۹۱۱ کال د اکتوبر پر یوولسمه(میزان ـ ۱۲۹۰ش) پرانیستل سو.

جېمز میلر James Miller

جیمزمیلر د سکاټلینډ و. د امیر حبیب الله خان د پاچهی پر وخت یې د بهرني مستخدم په توګه کار کاوه. کابل ته د تګ نېټه یې غالباً ۱۹۰۷م کال دئ. جیمزمیلر د کابل د وړیو کارخانه، چي د ورځي یې درې سوه متره ټوکر تولیدولای سوای، په غزني کي د اوبو یو ډم او دوه درې د ګلف میدانونه جوړ کړي وو. غبار د دغه بند دجوړېدو کال ۱۹۱۲م بللی او لیکي، چي پنځوس زره جریبه مځکه یې خړوبوله (افغانستان در مسیر تاریخ... ۷۰۵مخ). د دغي فابریکې د پرانیستلو کال ۱۹۱۳م ښوول سوی دئ(پېښلیک ـ ۲۲۶مخ). د (کوټی ستاره)[*] د پراختیا پلان هم د نوموړي میلر لخوا برابر سوی و او د ده لخوا یې کار پر مخ وهل کېدی. دغه راز یې د امیر په مشوره په خورد کابل کي د اوبو یو بند جوړ کړ [2]. ویل کېږي، چي دی پر امیرحبیب الله خان دومره ګران و، چي زیاتره به یې په نیمه شپه، کله چي به خوب نه ورتلی، ځان ته وربااله او مجلس به یې ورسره کاوه[3]. له امیر سره به په ژمي جلال آباد ته هم تلی او هورې به یې ورسره د ګلف لوبه کوله. یو وخت ور ته د امیر لخوا د ګلف کلب نوی سیټ، چي په کابل کي جوړ سوی او د ده نوم و(نشان دولت) پکښې کینل سوی و، د سوغات

---

(1) تاریخي پېښلیک ـ ۲۲۴ مخ.

(*) کوټي ستاره همدا اوسنی (د ستوري ماڼی) د بهرنیو چارو وزارت ماڼی ده.

(2) جیویټ ـ ۱۲۵ ـ ۱۲۶ مخونه.

(3) هماغه اثر ـ د ۲۵ مخ حاشیه.

(د ستوري ماڼۍ) همدا اوسنی د بهرنیوچارو وزارت

په توګه ور کړه سو[۱] ده د امیر ځیني عکسونه هم اخیستي وه. امیر حبیب الله خان ور سره د خبرو په ترڅ کي په امریکا کي د جمهوري ریاست لپاره د ویلسن د کامیابېدلو خبر ور کړی و.[۲] ویلسن په ۱۹۱۲م کي د امریکا د جمهور رییس په توګه وټاکل سو. جیمز میلر په افغانستان کي اووه کاله تېر کړل. وروسته ناروغه سو او کورنۍ زور پر ولګاوه، چي بیرته انګلستان ته ورستون سي، په پای کي په ۱۹۱۴م کال هندوستان ته په رخصتي ولاړ او بیرته راستون نه سو. خپله استعفا یې امیر ته راولېږله. امیر د ده له دغه کاره ډېر ناراض و[۳].

ډاکټر اوون Dr. Owen

دغه انګرېز ادعا کوله، چي کیمیا پوه دی او له ګلانو څخه د عطرونو ایستلو کار کولای سي. کله چي یې امیر حبیب الله خان ته د دغه بیزنس وړاندیز کاوه. د ګلابو له پاڼو سره یې اصلي عطر ګډ کړي وه او امیر ته یې وړاندي کړل. د امیر ډېر خوښ سول. وروسته امیر ور ته اووه پنځوس زره ډالره ور کړل، چي د افغانستان لپاره په انګلستان کي د صابون د یوې کارخانې ماشین آلات رانیسي. دغه په اصطلاح ډاکټر پیسې واخیستلې او پر هغه مخ پر خپله تره ولاړ او تری تم سو[۴]. جیویټ وایي، چي دا کیسه د ده تر وخت وړاندي پېښه سوې وه او د دغه ډاکټر یوه باوري انجنیر ور ته وروسته بیان کړې وه.

له امیر سره په اروپایي مستخدمینو کي ځیني دغه راز دروهلي کسان نور هم وه، چي موږ د جیویټ له یاداښتو له مخي په خبر یږو. زه په دې برخه کي د جیویټ د کتاب د ۲۵۲-۲۵۵مخونو ټول مطالب

---

(۱) هماغه اثر- ۱۲۲ مخ.

(۲) هماغه اثر - ۱۲۷ مخ.

(۳) هماغه اثر - ۲۴۹ مخ.

(۴) جیویټ - ۲۵۳ مخ.

دلته رانقلوم. جیویټ لیکي: د امیر دا عادت و، کله چي به د خپلو اروپایي مستخدمینو لخوا ور ته د کارخانې د موادو برآورد وسو، نو به یې نوموړي شخص ته رخصتي ور کړه او د بڑآورد سویو موادو د پېرودلو لپاره به یې پیسې هم ور کړې. خو ځینو به د غدارۍ لاره واخیستله او له روپو سره به یو ځای د ډاکټر اوون په شان تری تم سول.[1]

د ډاکټر اوون ترتري تم کېدلو وروسته امیر د بمبیي یو شرکت مجبور کړ، چي دوه تنه نور د صابون جوړولو د کارخانې لپاره ور ته راولېږي.[2] هغوی داکار وکړ، خو یو تن له دوی دوو څخه امیر ته شکایت وکړ، چي دا بل سم سړی نه دئ او پر ځای دي یې دی وګومارل سي. ده درې کاله تېر کړل او په دغه مو ده کي یې د صابون جوړولو د کارخانې په نامه څلور دېواله را تاو کړل. ده به یوه لویه د اوسپني خولۍ پر سر ایښې وه او په چوکۍ کي به یې د بنایانو د کار نندارہ کوله. کله چي د بنایانو کار بشپړ سو، ده د دریو کلونو تنخواه واخیستله او هندوستان ته په رخصتي ولاړ. د کارخانې ټول پلانونه او نخشې یې له ځان سره یووړې او ورپسې تری تم سو.

یو بل څوک، چي ځانته یې د (افغانستان د حکومت لپاره د سر انجنیر) نوم ورکړی ؤ، د شاهي ماڼۍ لپاره د شلو کیلو واټو بر ېښنا او یو شمېر تیلفونو ذمه وهلې وه. ده هغه انګلیسی شرکت مجبور کړ، چي دی یې افغانستان ته لېږلی و، چي ده ته دي د پلورل سویو موادو د بیي په سلو کي لس ورکړه سي. که دا کار و نه سي، دی به له شرکت سره اړیکي وشلوي. جیویټ وایي، ده ما ته و ویل، چي لس په سلو کي خو ممکن نه وه او ده پیشنهاد وکړ چي په دې صورت کي په نو دی خپل

---

[1] دا کیسه تردې کتاب وړاندي د جیویټ په هغه.مقاله کي راغلې ده چي د امریکا په متحده ایالاتو کي په خپرېدونکي مجلې Asia کي په ۱۹۱۰ جون کي خپره سوې ده. په دغه مقاله کي یې د امیر لخوا ورکړه سوي پیسې اووه څلوېښت زره ډالره ښوولي دي.

[2] د دغو دوو تنو نومونه ما ونه موندل (هوتک).

مواد پر خرڅ کړي او زياتي پیسې به تر لاسه کړي. ده وروسته امير دې ته و هڅاوه، چي له هندوستانه تر کابله پوري د موادو لېږدولو لپاره د بخار تراکتور رانیسي (پر داسي سړک، چي لرګي په مشکله پکښې پيداکېږي او زياتره برخه يې بې اوبو ده). کله چي تراکتور پېښور ته را ورسېد، څوک نه و، چي سره وا دې چوي. امير انجنير ته و ويل، چي پخپله دي ور پسې ولاړ سي او تراکتور دي راولي. انجنير ولاړ او دې نتیجې ته ورسېد، چي بیرته افغانستان ته ستون نه سي او پر ځای يې خپله استعفا ور ولېږي... د تراکتور پیسې مخکي له مخکي ورکړه سوي وې... ده په هندوستان کي د کلکتې له يوه اخبار سره په مرکه کي و ويل، چي ده درې کاله په کابل کي د هايډروالکتريک پر پروژه او نورو بلاو بترو باندي کار وکړ... د کابل سراج الاخبار په دې برخه کي يو مطلب خپور کړ او دی يې غل و باله او ادعا يې وکړه، چي ده د حکومت پنځوس زره هندوستانۍ روپۍ تښتولي دي... جیویټ ليکي، د حيرانتيا وړ نه ده، چي د افغانانو په عقيده اروپايان ټول شيطانان دي.

دی زياتوي: له دغو ښاغلو اروپايانو څخه يو تن کوهستان ته راغی. يوه ورځ يې راته و ويل، چي غواړي د دغي سيمي لپاره پر امير باندي د پنبه وو يوه کارخانه خرڅه کړي. ماور ته و ويل "تر دې بې ګټي کار بل نسته، ځکه په ټوله سيمه کي دومره پنبه نه پيدا کېږي، چي يوه اوونۍ دي کارخانه په وچلېږي".

ده اورېې و ښورولې او وې ويل "بلا توره په پسې. زه خپله کارخانه خرڅوم او ځان ځني بېغمه کوم. د پنبه وو د کارخانې دغه ماهر، چي زيات مشهور هم و، و ويل "افغانان چي څومره ډېر و غولوې، هغومره ډېر پر ګرانېږي" او دا رښتيا وه... د امير له فرانسوي اشپز پرته، چي يو ارټيسټ و او د زياترو اروپايانو په شان يې د مياشتي يو زرهندۍ روپۍ تنخواه وه، نورو ټولو اروپايانو ځانونه انجنيران بلل...[1].

---

[1] د دغه فرانسوي اشپز د هويت په باب مي هيڅ و نه موندل. (هوتک).

جیویټ وایي: یوه ورځ امیر د زړه خواله راسره وکړه او د استخدام سویو اروپایانو له چلنده یې په نفرت سره شکایت وکړ او زیاته یې کړه "آخر زه یو پاچا یم. د یوه دوکاندار په شان چنې نسم وهلای" جیویټ زیاتوي، چي امیر پخپله له افغاني اصولو سره سم تل ډیر انصافداره و، ښه سلوک یې کاوه، ښه تنخواه یې ورکوله او په مقابل کي یې د مناسب چلند هیله هم لرله.

مولانا محمد علي قصوري چي په دغه وخت کي یې[1] د حبیبیې مدرسې د استاد او ور پسې د مدیر په توګه کار کاوه، پخپلو خاطراتو کي لیکي: " ... د یوه اسلامي حکومت دا فکر چي انګریز کارکوونکی د هغه مامور دی، ډېره ستره تېروتنه ده. انګرېز هر چیري چي وي ... هیڅکله خپل ځان د بل حکومت کارکونکی نه بولي، بلکي هغه ځان د انګرېز ملازم بولي او ټول کړه وړه یې د بریتانیې د اهدافو او عملي حکمت سره مله او برابر وي ... "[2]

د غاښو ډاکټر[×]

جیویټ د ۱۹۱۶م کال د دسمبر د دېرشمي نېټې په یوه لیک کي د غاښو د یوه امریکایي ډاکټر یادونه کوي، چي د ده دغاښو علاج یې په وړیا توګه ورکړی و. دی زیاتوي، چي دغه ډاکټر خورا ګپاوو سړی و، په عمر دېرش کلن ښکارېدی او په اوونۍ کي یې دوه زره روپۍ (۶۶۰ډالره) عاید درلود. د هر وار غاښ ډکولو پر سر یې اضافي سوغاتونه او بخششونه هم ګټلې. په یوه سهار یې زما په مخ کي دوه ساعتونه وګټل. یوه دانه شهزاده ور کړه او بله سپه سالار نادر شاه.[3]

---

[1] میوند مجله ـ دوهم کال ـ څلورمه ګڼه ـ ۱۷ مخ.

[2] د دې ټولو دروهلو انجنیرانو بیانونه جیویټ په هغه مقاله کي راوړي دي چي په ۱۹۲۰ جون کي یې د Asia په مجله کي خپره کړې ده.

[×] د دغه ډاکټر نوم یې نه دئ راوړی او ماهم و نه موند.

[3] جیویټ د سپه سالار محمد نادر خان نوم هر ځای(نادر شاه) لیکلی وي؟ (هوتک)

دی وايي: یوه شپه زه د ده ځای ته ورغلم. دی پر کور نه و. چي راغی په یوه کڅوړه کي دوه سوه Sovereigns [1] ور سره وې، چي امیر صاحب د سوغات په ډول ور کړي وې. ده و ویل، چي امیر فکر کاوه، زه به یې وا نه خلم خو ګټه یې ور و نه رسوله. پر ده باندي سوغاتونه اورېدل. اصلاً خو له در باریانو سره یو څه کول، په تېره بیا د درد تسکینول، پخپله معنا د سوغاتونو او غټو جایزو ګټل.[2]

فینل Fanne l

دا سړی د امیر حبیب الله خان موټروان او په ختمه انګرېز و. د امیر لخوا د همدې کار لپاره استخدام سوی و. د میاشتي یې زر روپۍ تنخواه ورکوله. اووه کاله یې پر همدې دنده پرله پسې تېر کړل. په ۱۹۱۴م کال انګلستان ته دمعدې د زخم د علاج لپاره ولاړ او بیا راستون نه سو.

ټېلر Taylor

د دغه شخص یادونه د جیویټ په یاداښتو کي سته، نور یې نه پېژنم. جیویټ لیکي: د ۱۹۱۳کال د جنورۍ پر دیارلسمه د امیر لخوا راته د رخصتۍ اجازه راکړه سوه. هالیډې Halliday او ټېلر Taylor دوولس زره روپۍ را د غاړي کړې، چي په دې ډول زما سره د نغدو روپو شمېر د برش زرو ته ورسېد(د څلورو یابو ګانو بار)[3]

---

[1] یو ډول د سرو زرو انګلیسي سکې وې، چي هري یوې یې یو پونډ ارزښت درلود.

[2] د دغه ډاکټر بیان د جیویټ د کتاب په ۲۹۵ مخ کي راغلی دئ.

[3] جیویټ ـ ۱۷۶مخ. د هالیډې په باب وګورئ زما د همدې لیکني ۶۳ مخ. باید و ویل سي، چي دا اروپایي مستخدمینو نغدي پیسې له کابله تر پېښوره پر یابو ګانو وړل کېدلې. ځکه یو خو کاغذي نوټونه رواج نه وو او بل بانکي سیستم هم وجود نه درلود.

پیر کرافورډ perry Crawford
او
پاټریک کیلي Patrick Kelly

دوی دواړه د جبل السراج د برښنا په دستګاه کي د مرستیال انجنیر په توګه کار کاوه. دوی د ۱۹۱۲ م کال د اپرېل پر اته ویشتمه کابل ته ورسېدل ۱۹۱۴م کال پوري هورې پاته وو. کرافورډ امریکایي و او جیویټ یې د یوه لایق سړي په توګه نوم اخلي او وایي "کله چي ده زما سره کار پیل کړ، نور انجنیران په کابل کي بېکاره ناست وو."[۱]

ډاربي Darby

دی د امیر حبیب الله خان لخوا د جیولوجیسټ په توګه د ډبرو د سکرو او قیمتي ډبرو د پلټلو لپاره استخدام سوی و. دی او مسټر هالیډې Halliday په یوه وخت کي له افغانستانه و وتل.[۲]

الکسانډر مکرابرټ Alexander Mcrobert

دی د انګلستان تبعه او د هند د کانپور ایالت د وړیو فابریکې مشر و. په ۱۹۱۸م کال افغانستان ته راغلی و، چي د خپلي کمپنۍ د پراختیا امکانات مطالعه کړي.[۳]

داسي ښکاري، چي د جېمزمیلر په لاس د وړیو کارخانه به د کانپور د همدغي کمپنۍ په همکارۍ جوړه سوې وي.[۴]

---

(۱) جیویټ - ۷۶، ۱۱۵ مخونه.

(۲) جیویټ - ۳۴ مخ حاشیه.

(۳) جیویټ - ۳۱۲ مخ.

(۴) و ګورئ: زما د همدې لیکني ۶۴ مخ.

رضابېگ

دا سړی په "شين سترگو" کي نه راځي او تورک و. د امير حبيب الله خان په وخت کي يې نوم د بهرنيو مستخدمينو په کتار کي اخيستل کېږي. دی د باروت جوړولو متخصص و او د باروت جوړولو فابريکه د ده په مشري چلېدله. وايي ډېر شيک پوش سړی و او د وروستي اروپايي موډ جامې يې اغوستلې. د مياشتي يې څلور سوه ډالره تنخواه اخيستله. ده زيار ايست، چي بې دوده باروت جوړ کړي او ويل کېږي، چي پر دې کار بريالی هم سو[1] اروانباد مير غلام محمد غبار د ده نوم اخلي او ليکي "در فابريکه حربی کابل نيز برای بار اول توسط رضا بيگ ترکی (باروت سفيد) يا باروت بيدود ساخته شد.[2]

ډاکټر ماني بېگ

دغه تورکی جراح هم د امير حبيب الله خان په مستخدمينو کي و. لوړ تحصيلات يې په پاريس کي سر ته رسولي و. د کابل ښار د روغتون مشري د ده پر غاړه وه. نوموړي. د شري ناروغۍ واکسين جوړ کړ. جيويټ د ده نوم اخلي او وايي، چي دغه روغتون د افغانستان په شرايطو کي بد روغتون نه و.[3]

ډاکټر منير بای

دی هم د اميرحبيب الله خان په پاچهي کي د کابل د حکومتي روغتون مشر و. په کال ۱۹۱۴ع کي چي اوسکارفون نيدرماير المانی له يوه هيئت سره کابل ته راغلی و، له نوموړي ډاکټر منيربای سره يې د بابر په بڼ کي کتلي و. ډاکترمنيربای له دغه الماني هيئت سره ډېره

---

[1] جيويټ - ۳۰۶ مخ.

[2] غبار - افغانستان درمسير تاريخ - ۷۰۵ مخ.

[3] جيويټ - ۳۰۸ مخ.

خواخوږي درلوده او د نوموړي هيئت او افغاني مقاماتو په تېره بيا د سردار نصرالله خان تر منځ د اړيکو د ټينګولو په کار کي هڅي کولې. نيدرماير پخپله سفرنامه کي د ډاکټرمنيربای روغتون د کابل ښار په ختيځه برخه کي ښيي. (اوسکارفون نيندرماير... افغانستان د هند ستره دروازه ـ پښتو ژباړه ۶۴ مخ ـ ۲۰۰۰ م کال)

پای



د افغاني مصنوعاتو د پلورلو دوکان

کابل ـ افغانستان ـ ۱۶۰۵ع



د غوربند پر سیند باندي د پله جوړولو د کار جریان
(د جیویټ عکاسي)

افغاني کارگران - ۱۹۰۵ع

Blueeyed Employees

In Afghanistan

Download from:aghalibrary

By:

Mohammad Masoom Hotak